


# محرومیت او تبعیض:

# په افغانستان کې د زده کړو حق ته د نجونو او ښځو د لاسرسي وضعیت

نوامبر ۲۰۲۴

رواداری
RAWADARI

رواداري يو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د خارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونې، او د قربانې محوره عدالت د کلتور د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پريتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شویو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د پیښې، څرنګه چې پېښې شوې دي، په ريښتينولۍ خپروي.

# د مطالبو لړلیک


| | |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| د معلوماتو د راټولولو لاري چاري | ۳ |
| محدودیتونه | ۴ |
| د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې د تعلیم د حق تضمین | ۴ |
| د تعلیم د حق په اړه د دولتونو ژمنتیاوې | ۵ |
| شالید | ۶ |
| واک ته د طالبانو له بېرته ستنېدو سره د تعلیم او تحصیل له حق څخه د ښځو محرومیت | ۸ |
| د معترضو ښځو شکنجه کول، جنسي تېری او وژل | ۱۰ |
| د «امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون» له خپرېدو وروسته په تعلیمي او تحصیلي ادارو کې د محدودیتونو سختېدل | ۱۳ |
| د ښوونځیو او پوهنتونونو د نصاب او درسي پروګرامونو بدلون | ۱۵ |
| الف- د ښوونځیو تعلیمي نصاب | ۱۵ |
| ب- د پوهنتونونو تحصیلي نصاب | ۱۸ |
| د ښوونځیو او پوهنتونونو د کتابتونونو تفتیش | ۲۰ |
| د غیر مسلکي روزونکو او ښوونکو په ګمارلو سره د تعلیم د کیفیت ټیټېدل | ۲۲ |
| د طالبانو له خوا د ښوونځیو او پوهنتونونو د خارنې لاري چاري او موخې | ۲۶ |
| الف- د دیني ازموینو اخستل او «امارت پېژندنه» | ۲۶ |
| ب- د زده کوونکو او محصلینو د پوښاک د ډول څارنه | ۲۷ |
| د طالبانو په تعلیمي او تحصیلي نظام کې د بشري حقونو د معیارونو نقض | ۲۸ |
| الف- د جنسیتي نابرابرۍ، کرکې او ښځو سره د تبعیض دودول | ۲۸ |
| ب- د قومي، مذهبي او ژبنیو لږکیو زده کوونکو او محصلینو لپاره د تعلیم حق | ۳۰ |
| ۱. په مورنۍ ژبه د زده کړې حق | ۳۱ |
| ۲. د مذهب، فرهنګ او تاریخ د زده کړې حق | ۳۲ |
| ج- تعلیم، سواد او حرفې ته د معلولیت لرونکو نجونو د لاسرسي وضعیت | ۳۳ |
| په دیني مدرسو کې تاوتریخوالی، تنبه او جنسي زورونه | ۳۴ |
| الف- تاوتریخوالی او فیزیکي تنبیه | ۳۴ |
| ب- تاوتریخوالی او جنسي ځورونه | ۳۵ |
| د ښځو د تعلیم او تحصیل له حق څخه د محرومیت ټولنیزې، رواني او اقتصادي پایلې | ۳۶ |
| الف- د رواني ستونزو زیاتېدل او د ښځو او نجونو تر منځ د ځانوژنې هڅې | ۳۶ |
| ب- اجباري او ژر ودونه | ۳۸ |
| د ښځو د بدیلو زده کړو د حللارو ارزونه | ۳۹ |
| الف- پټ او پرلیکه (آنلاین) ښوونه | ۳۹ |
| ب- بورسونه او د تحصیلي لګښتونو مرسته | ۴۲ |
| ج- دیني مدرسې | ۴۲ |
| د تعلیم او تحصیل له حق څخه د ښځو محرومیت د بشریت ضد جنایت په توګه | ۴۵ |
| پایله | ۴۷ |
| وړاندیزونه | ۴۸ |

# سریزه

دا مهال افغانستان د نړۍ یواځنی هیواد دی چې ښځې او نجونې یکې منځنیو او لوړو زدکړو ته لاسرسی نه لري. د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي او فرهنګي سازمان ویلي چې قدرت ته د طالبانو له راستنېدو راپدېخوا، له ۱.۴ میلیون څخه ډېرې په شرایطو برابرې نجونې په عمدي توګه ښوونځي ته له تګ منعه شوې دي.[1]

**په دې راپور کې د افغانستان د ښځو د تعلیم او تحصیل پر حق د طالبانو د بیا راستنېدو د اغېزو تحلیل او ارزونه، او هم تر ټولو مهم بدلونونه چې د دې هیواد د ښوونې او روزنې په نظام کې په تېرو دريو کلونو کې پېښ شوي دي، تحلیل او ارزول شوي دي.**

موخه دا ده چې له یوې خوا د تعلیم او تحصیل له حق څخه د ښځو د عمدي محرومیت لپاره د طالبانو د سازمان شویو اقداماتو او سیاست حقوقي او د بشري حقونو ابعاد بیان شي او له بل پلوه د دې ډلې په سیاست او تعلیمي نظام کې د ماشومانو او ځوانانو د ښوونې او روزنې د لرلید شننه او ارزونه وشي. ځکه مساله یواځې د تعلیم له حق څخه د ښځو او نجونو محرومېدل نه دي؛ بلکې بله اندېښنه چې تر اوسه ډېر کم بحث وربانديې شوی، پر داسې لاره د ښوونیز نظام د روانولو لپاره د طالبانو پراخې او هدفي هڅې دي، چې کولای شي د افغانستان د ټولنې پر کلیت او د دې هیواد د ښځو او نجونو پر وضعیت اوږدمهاله اغېزې وښندي.

سره له دې، په دې راپور کې هڅه شوې چې د ښځو او نجونو د تعلیم د حق د وضعیت د تحلیل تر څنګ پر هغو لویو بدلونونو هم بحث وشي چې حاکمې ډلې واک ته له راستنېدو وروسته د تحصیلي او ښوونیزو موسسو په درسي پروګرامونو کې پلي کړي دي.

**د ښځو او نجونو د تعلیم د حق د سلبولو لپاره د طالبانو تدریجي، سازمان شوي او هدفي اقدامات، د «امربالمعروف او نهی عن المنکر» د قانون له خپرولو وروسته په ښوونځیو او تعلیمي او تحصیلي موسسو کې محدودیتونه سختېدل، د ښوونځیو او پوهنتونونو په ښوونیزو نصابونو کې پلي شوي بدلونونه، د تعلیمي او تحصیلي مرکزونو د کتابتونونو تفتیش، د ښوونځیو د ښوونکو او د پوهنتونونو د استادانو د استخدام لپاره د طالبانو معیارونه، په درسي نصاب کې بدلونونه او په پایله کې يې د بشر حقونو د معیارونو نقض، په مورنۍ ژبه زدکړې ته د لاسرسي وضعیت او قومي او مذهبي لږکیو زده کوونکو او محصلینو ته د مذهب، فرهنګ او تاریخ ښوونه،**

1 د ملګرو ملتونو ښوونیز، علمي او فرهنګي سازمان «افغانستان: د حاکمو مقاماتو له خوا ۱.۴ میلیونه نجونې د تعلیم له حق څخه محرومې شوې دي»، د اګست ۱۵مه ۲۰۲۴، دا لینک وګورئ: https://www.unesco.org/en/articles/afghanistan-14-million-girls-still-banned-school-de-facto-authorities

**د سواد او کار زده کړې ته د معلولیت لرونکو نجونو لاسرسی، په ښوونځیو کې د ماشومانو انضباطي لارې چارې، د تعلیم له حق څخه د ښځو د محرومیت ټولنیزې، اقتصادي او رواني پایلې او د ښځو او نجونو لپاره د تعلیم د بدیلو لارو چارو ارزونه هغه مهم موضوعات دي چې په دې راپور کې په جامع او مفصل ډول ارزول شوي دي.**

تمه کیږي چې د دې راپور موندنې او وړاندیزونه د نړیوالې ټولنې، د ملګرو ملتونو سازمان او په ځانګړي ډول د جزايي میکانیزمونو، د بشر حقونو د سازمانونو، د حاکمو چارواکو او نورو اړوندو مراجعو د پام وړ وګرځي او د تعلیم او تحصیل حق ته د لاسرسي د تامین او هم د طالبانو تر کنټرول لاندې افغانستان کې د ښوونې او روزنې بحران ته د رسېدو لپاره اغېزناک اقدامات ترسره شي.

# د معلوماتو د راټولولو لارې چارې

**په دغه راپور کې د راغلیو اطلاعاتو لویه برخه، د پوښتنپاڼو له لارې د روادارۍ د څارونکو له خوا ترلاسه شوې او د هغو ښځو او نجونو قربانیانو چې د تعلیم له حق څخه محرومې شوې دي او د هغو ښځو چې د تاوتریخوالي قرباني شوې دي، او د عیني شاهدانو، خبریالانو، مدني فعالانو او د بشر حقونو د مدافعانو، د روغتیايي مرکزونو د مسئولینو، د ښوونځیو او پوهنتونونو د استادانو، د نجونو او هلکانو محصلینو او زده کوونکو، مدافع وکیلانو او بین المللي اړوندو بنسټونو د کارکوونکو په ګډون د افغانستان په ۲۶ ولایتونو[2] کې ډېر شمېر محلي سرچینو ته له مراجعې څخه ترلاسه شوې.**

د معلوماتو او مرکو د راټولولو پروسه، د روادارۍ د شپږ تنو څېړونکو تر څارنې لاندې ترسره شوې، او له یادو سرچینو څخه د ترلاسه شویو اطلاعاتو له کیفیت او اعتبار څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، د روادارۍ څېړونکو د تحصیلي او ښوونیزو موسسو اړوند د طالبانو له خوا له صادر شویو پرېکړو، فرمانونو او نورو کتبي اسنادو سره مقایسه شوې او مطابقت ورکړل شوی.

په دې راپور کې، د روادارۍ په مخکنیو راپورونو، او نورو مطالعاتي راپورونه چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې څخه مخکې د افغانستان د ښځو د تعلیم او تحصیل د وضعیت په اړه د بشري حقونو سازمانونو او رسنیو له خوا خپاره شوي، هم استناد شوی دي. همدا راز، له مخکنیو قوانینو او د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت د پوهنې وزارت او اړوندو بین المللي سازمانونو له راپورونو څخه د پوهنې د شالید د درک لپاره، او هم د طالبانو د اوسنې ښوونیز او روزنیز نظام د وضعیت اړوند له راپورونو څخه استفاده شوې. سره له دې، دا راپور د افغانستان د ښځو د تعلیم او تحصیل د وضعیت او د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه نېټه واک ته د طالبانو له بیا راګرځېدو څخه د ۲۰۲۴ کال تر نوامبر پورې د هیواد د ښوونځیو او پوهنتونونو په درسي پروګرامونو کې د پلي شویو بدلونونو جامع تحلیل وړاندې کوي.

د یادونې وړ ده چې د مرکه شویو کسانو او سرچینو له امنیت څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د نېټې د ذکر کولو او د یو شمېر پېښو د موقعیت اړوند د جزئیاتو وړاندې کولو څخه په قصدي ډول ډډه شوې ده.

2 کابل، میدان وردګ، لوګر، غزني، بامیان، دایکندي، غور، هرات، بادغیس، نیمروز، فراه، کندهار، هلمند، ننګرهار، لغمان، کنړ، خوست، پکتیکا، پکتیا، پنجشیر، پروان، بغلان، کندز، فاریاب، تخارا و بدخشان. ارزګان، زابل

## محدودیتونه

د طالبانو له خوا د سختو محدودیتونو د پلي کولو له امله اطلاعاتو ته لاسرسی د هرې ورځې په تېرېدو لا سخت شوی دی، ځکه هغوی د وېرې او ډار د فضا په رامنځته کولو سره د طالبانو د خوښې خلاف د هر ډول معلوماتو او د بشر حقونو د نقض اړوند معلوماتو د خپرولو مخنیوی کوي. په دې منځ کې، د استخباراتو، امربالمعروف، د اطلاعات و فرهنگ ریاستونه او د والیانو دفترونه د دې محدودیتونو په پلي کولو کې مهم نقش لري.[٣] په ځانګړي ډول، د طالبانو سختو قوانینو ته په پام سره د ښځو او نجونو د بشري حقونو د وضعیت اړوند د معلوماتو راټولول د لا زیاتو ننګوونو او سخت کار سره مخ شوي دي.

**لکه څنګه چې مرکه شویو کسانو رواداري ته ویلي چې طالبان خبریالانو، رسنیو او نورو هیوادوالو ته چې د ښځو غز ثبت او خپور کړي سزا ورکوي. سربېره پر دې، طالبانو په یو شمېر ولایتونو کې رسنۍ او سیمه ییز خبریالان تهدید کړي چې که د افغانستان د ښځو د وضعیت او د بشر حقونو د نقض د قضیو په اړه معلومات خپاره کړي، رسنۍ به یې وتړل شي او خپله به بندیان شي. همدا راز، د مرکه شویو د مرکو پر بنسټ، طالبان حتا ټلفوني، د ټولنیزو رسنیو د مسنجرونو لکه وټساپ، فیسبوک او ټلګرام اړیکې هم ګوري چې د بشر حقونو د نقض د پېښو د ثبت او خپرولو د مخنیوي ډاډ ترلاسه کړي.**

له همدې امله رواداري بنسټ د دې راپور د اړتیا وړ معلوماتو د راټولولو په بهیر کې، د هیواد په ځینو برخو کې له د یو شمېر ښځو د مرکو اخیستلو او د طالبانو تر کنټرول لاندې د دیني مدرسو د درسي پروګرامونو اړوند د جزئیاتو په ترلاسه کولو کې له جدي محدودیتونو سره مخامخ و.

# د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې د تعلیم د حق تضمین

د تعلیم حق د وګړو د یو تر ټولو مهم حق په توګه، چې له نورو بشري حقونو او آزادیو څخه د برخمنېدو لپاره اړین دی، په ډېر شمېر بین المللي اسنادو کې راغلی او تضمین شوی دی لکه څنګه چې د بشر حقونو نړیوالې اعلامیې په صراحت سره ویلي چې هر څوک حق لري له ښوونې او روزنې برخمن شي او لاسرسی ورته کم تر کمه په لومړنۍ دوره کې وړیا د ټولو لپاره تامین شي. دې اعلامیې همدا راز د لومړنیو زده کړو د اجباري کېدو او د فني او حرفه يي زده کړو په ګډون د زده کړو  نورو ډولو ته د د لاسرسي پر اجباري اړتیا تاکید کړی دی.[٤]

3 رواداري، د ۲۰۲۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو رپوټ، (اګست ۲۰۲۴)، لاندې لینک پرانیزئ: https://www.unesco.org/en/articles/afghanistan-14-million-girls-still-banned-school-de-facto-authorities

4 د ملګرو ملتونو سازمان، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د بشر حقونو د نړیوالې اعلامیې ۲۶مه ماده ابند، (۱۹۴۸، د ډسامبر ۱۶امه)، لاندې لینک وګورئ: https://www.ohchr.org/en/universal-declaration-of-human-rights

همدا راز، د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو بین المللي کنوانسیون د ۱۳مې مادې د ۲ بند په (الف) فقره کې یې پر لومړنۍ اجباري او وړیا ښوونې او روزنې تاکید کړی دی.[٥] د ماشوم د حقونو بین المللي کنوانسیون ۲۸ او ۲۹ موادو هم د ټولو ماشومانو لپاره د هغوی قومي، مذهبي، جنسیتي او نورو ځانګړنو ته له پاملرنې پرته د تعلیم حق په رسمیت پېژندلی او په صراحت سره یې ویلي چې باید د لومړني او وروسته تعلیم اړین وګرځول شي او په لاسرسي کې یې د ټولو لپاره برابر فرصتونه تضمین شي.[٦] ښځو سره د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون هم لومړنیو او عمومي، فني، حرفه یي او لوړو زده کړو ته د لاسرسي لپاره د مساوي شرایطو برابرولو او هم هغو پروګرامونو ته د یو ډول لاسرسي په برابرولو تاکید کړی چې د ښځو او نارینه ؤ تر منځ شته ښوونیزه فاصله راکمه کړي.[٧] له بل پلوه، په تعلیم کې د تبعیض د نشتوالي کنوانسیون د جنسیت او... پر بنسټ د هر ډول تمایز او تفاوت کولو، محرومولو، محدودیت یا رجحان رامنځته کولو ته قایلېدل د تعلیم په ټولو مراحلو او سطحو کې په سخته منعه شوی دی.[٨]

## د تعلیم د حق په اړه د دولتونو ژمنتیاوې

دې ته په پاملرنې سره، چې بین المللي حقوقو هغه ژمنتیاوې او مسئولیتونه مشخص کړي دي چې دولتونه د بشر حقونو له اسنادو او معاهدو سره له یوځای کېدو وروسته باید هغه رعایت او پلي کړي. د غړو دولتونو لومړۍ دنده او ژمنه، «بشر حقونو ته درناوی» دی. په دې معنا چې یاد دولتونه باید بشر حقونو ته د لاسرسي د زمینو محدودولو یا پکې له لاسوهنې څخه ډډه وکړي. دویمه ژمنتیا، «د بشر حقونو ملاتړ» دی، چې د هغې پر بنسټ دولتونه د بشر حقونو د نقض پر وړاندې د افرادو د ملاتړ دنده لري. درېیمه ژمنتیا «د اجراء مسئولیت» دی، چې دولتونه د هغو اقداماتو پر نیولو او پلي کولو مکلفوي چې له بشر حقونو څخه د برخه منېدو زمینې برابرې کړي.[٩]

سره له دې یاد تعهدات او ژمنتیاوې د تعلیم د حق اړوند هم د عملي کېدو وړ دي او پر بنسټ یې د دولتونو اصلي مسئولیتونه په مستقیم ډول د تعلیم وړاندې کول، د بین المللي معاهدو سره برابر قوانین تصویبول، د قربانیانو د ملاتړ لپاره د اجرایي اقداماتو ترسره کول او دې حق ته د وګړو د لاسرسي اسانتیا ده.[١٠]

5 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق، (۱۹۶۶ ډسامبر ۱۶)، لاندې لینک وګورئ: https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/international-covenant-civil-and-political-rights

6 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، د ماشومانو د حقونو بین المللي کنوانسیون، (۱۹۸۹ نوامبر ۲۰مه)، https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/convention-rights-child

7 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، ښځو سره د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو بین المللي کنوانسیون، (۱۹۷۹ د ډسامبر ۱۸مه)، https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/convention-elimination-all-forms-discrimination-against-women

8 . د ملګرو ملتونو سازمان تعلیمي، علمي او فرهنګي سازمان، د ملګرو ملتونو سازمان، په تعلیم کې د تبعیض د نشتوالي کنوانسیون، لومړۍ مده لومړی بند، (۱۹۶۰ کال د ډسامبر ۱۴مه)، https://www.unesco.org/en/right-education/convention-against-discrimination

9 . د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمیشنري، د بشر بین المللي حقوق، https://www.ohchr.org/en/instruments-and-mechanisms/international-human-rights-law

10 د ملګرو ملتونو ښوونیز، علمي او فرهنګي سازمان، د تعلیم د حق اړوند د دولتونو مسئولیتونه، ۲۳ جنوري ۲۰۲۴، https://www.unesco.org/en/right-education/state-obligations-responsibilities?hub=70224

افغانستان د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو کنوانسیون، ښځو سره د هر ډول تاوتریخوالي د مخنیوي کنوانسیون او د ماشوم د حقونو کنوانسیون سره یوځای شوی چې دې ټولو د تعلیم حق تضمین کړی دی.[١١] د همدې له مخې، طالبان د حاکمې ډلې په توګه چې سیاسي واک یې په لاس کې دی، د یادو اسنادو د مقرراتو د اجرا حقوقي مسئولیت لري. څکه د بشر حقونو د کمېټې ۲۶-۶۱ شمېره نظریې سره سم، بین المللي اسناد په هر حال او د دولتونو د بدلون سره سره باید رعایت شي او ځای ناستي دولتونه اجازه نه لري چې له دې اسنادو څخه ووځي.[١٢]

# شــالیــد

د ۲۰۰۴ کال تصویب شوي اساسي قانون دولتونه مکلف کړي چې «د ملګرو ملتونو منشور، د دولتونو تر منځ معاهدات، بین المللي میثاق چې افغانستان ورسره یوځای شوی او د بشر حقونو نړیواله اعلامیه رعایت کړي..»[١٣] د دې قانون د ۴۳مې مادې پر بنسټ، «تعلیم د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې په دولتي تعلیمي موسسو کې د لیسانس تر کچې په وړیا توګه د دولت له خوا تامینیږي. دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د معارف د متوازن تعلیم په موخه، د منځنیو اجباري تعلیماتو د تامین لپاره اغېزناک پروګرامونه طرحه او پلي کړي او په هغو سیمو کې چې خلک پرې خبرې کوي په مورنۍ ژبه د تدریس زمینه برابره کړي.»[١٤] د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت د پوهنې قانون هم د اساسي قانون په پیروۍ، په صراحت سره ویلي چې: «د افغانستان اتباع له هر ډول تبعیض پرته د تعلیم او تربیې مساوي حق لري.»[١٥]

سره له دې، د افغانستان جمهوري اسلامي دولت له مهمو ستونزو او ننګونو سره سره لکه فساد او امنیتي اندېښنې؛ د هیوادوالو د تعلیم او تحصل حق ته د لاسرسي په برخه کې ارزښتناکې هڅې ترسره کړې وې. په ځانګړې ډول په بېلابېلو کچو کې د تعلیم حق ته د نجونو د لاسرسي په برخه کې د پام وړ پرمختګونه راغلي ؤ. لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو د ښوونیز، علمي او فرهنګي سازمان د راپور پر بنسټ، په ۲۰۰۱ کې له ۵۰۰۰ څخه په ۲۰۲۱ کې ۱۰۰۰۰۰ سل زره ته د نجونو زده کوونکو شمېر لوړ شوی و او هم د باسوادۍ کچه په ښځو کې یو پر دوه زیاته شوې وه. همدا راز، په لومړنیو ښوونځیو کې د نجونو زده کوونکو شمېر په ۲۰۰۱ کال کې تقریباً له سفر څخه په ۲۰۱۸ کال کې ۲.۵ میلونو ته رسېدلی و.[١٦]

11 . د ملګرو ملتونو سازمان د اطلاعاتو مرکز، د بشر حقونو هغه تعهدات چې افغانستان ورسره یوځای شوی، https://tbinternet.ohchr.org/_layouts/15/TreatyBodyExternal/Treaty.aspx?CountryID=1&Lang=EN

12 . د ملګرو ملتونو سازمان، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د بشر حقونو د کمېټې عمومي نظریه، ۲۶ (۶۱) شمېره، د ۱۹۹۷ کال د اکتوبر ۲۹مه)، https://digitallibrary.un.org/record/249474?v=pdf

13 د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، اساسي قاون، ۷مه ماده، (۴ جون ۲۰۰۴)

14 . هماغه سرچینه


15 . د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، د افغانستان د معارف قانون، ۳ ماده. ۱۳۸۷ کال کې د جمهور رئیس لخوا توشیح شوی.

16 . د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي او فرهنګي سازمان، «پرېږدئ چې ښځې او نجونې په افغانستان کې زده کړه وکړي»، (۲۰۲۳ د جنوري ۱۸مه)، لینک: https://www.unesco.org/en/articles/let-girls-and-women-afghanistan-learn

د دولتي او خصوصي تعلیمي موسسو د رامنځته کېدو اړوند هم د پام وړ پرمختګونه شوي ؤ. لکه څنګه چې تر ۲۰۲۰ کال پورې په ټوله کې ۱۷،۰۶۰ د عمومي تعلیماتو ښوونځي چې ۷،۴۲۳ لومړني او ۴۲۲۳ منځني ښوونځي او ۵۴۱۴ لېسې په ټول هیواد کې فعالې وې، چې له دې څخه ۱۹۷۱ خصوصي ښوونځي (۱۰۱۳ لومړني، ۵۹۱ متوسطه او ۳۷۶ لېسې) فعالې وې. په همدې دوره کې د ښوونکو د روزنې ټول مرکزونه ۳۵۴ او د حیاتي سواد زده کړې ښوونځي ۶۵ ته زیات شوي ؤ.[۱۷] همدا راز، د تعلیمي مرکزونو له ټولو ۱۰،۰۱۷،۹۲۵ زده کوونکو څخه ۳،۸۱۶،۷۹۳ تنه یې نجونې زده کوونکې وې.[۱۸]

**راپورونه ښيي چې د ښځینه ښوونکو په شمېر کې هم ښې لاسته لاوړنې موجودې وې. لکه څنګه چې د ۲۰۲۱ کال له اګست وړاندې په دولتي ښوونځیو کې له ټولو ۲۲۶۰۰۰ ښوونکو څخه ۸۱۰۰۰ (۳۶ فیصده) یې ښځې وې، خو پر افغانستان د طالبانو له تسلط یو کال وروسته، یعنې د ۲۰۲۲ کال تر اګست پورې دې ډلې د ۱۴۰۰۰ په شمېر دولتي دندې چې ښځو پکې کار کاوه له منځه یوړې، چې په دې کې ۸۲ فیصده د ښوونکو دندې وې.[۱۹]**

سره له دې ټولو طالبانو د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵مه واک ته له رسېدو وروسته مخکنی اساسي قانون چې د تعلیم او تحصیل په ګډون د بشر حقونو ته د هیوادوالو د لاسرسي تضمینوونکی و، لغوه کړ[۲۰] او همااغه سیاست یې خپل کړ چې پر بنسټ یې دوی په ۱۹۹۶-۲۰۰۱ کلونو کې نجونې او ښځې په دې هیواد کې له تعلیم او نورو انساني حقونو څخه محرومې کړې وې.[۲۱]



انځور: سهراب عمر

17 . د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، د معارف وزارت، «د عملیاتي پلان او د معارف د لاسته راوړنو کلنی تشریحي رپوټ»، ۲۱ مخ، (۲۰۲۱)، لینک: https://moe.gov.af/sites/default/files/2021-01/MoE%20Annual%20Progress%20Report%201399%20%20National%20level%20Final_2_0.pdf

18 . د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، د معارف وزارت، د کیفیت د تضمین معینیت، د معارف تحلیلي احصایوي کتاب، (۲۰۲۰)، لینک: https://moe.gov.af/sites/default/files/2021-07/Analythical_Report_1398_Dari.pdf

19 . د امریکا متحده ایالات، د څانګړي تفتیش سازمان، «په افغانستان کې د تعلیم وضعیت: د طالبانو سیاستونه تعلیم ته د لاسرسي پر محدودیت او د کیفیت د ټیټېدو لامل شوي دي»، https://www.sigar.mil/pdf/evaluations/SIGAR-24-01-IP.pdf

20 . رواداري، «په عدلي او قضایي نظام کې عدالت ته د لاسرسي وضعیت» (۲۰۲۳ جون)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/06/RW_Rule-of-Law-Report-Dari.pdf

21 . د بشر حقونو د څار سازمان، «د نجونو د تعلیم پر حق د طالبانو برید د افغانستان راتلونکي ته ضرر رسوي»، ۲۰۲۴ سپتامبر)، https://www.hrw.org/news/2024/09/17/talibans-attack-girls-education-harming-afghanistans-future

# واک ته د طالبانو له بېرته ستنېدو سره د تعلیم او تحصیل له حق څخه د ښځو محرومیت

د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې چې طالبان بیا پر هیواد مسلط شول، کم تر کمه ۷۰ فرمانونه، اوامر او اعلامیې د کار، آزاد تګ راتګ، روغتیايي خدمتونو ته د لاسرسي د حق او د تعلیم د حق په ګډون یې د ښځو د ژوند د محدودولو لپاره صادر کړي دي.[۲۲] د دې فرمانونو او اعلامیو یوه برخه په هدفي او سازمان شوي ډول د هیواد د ښځو او نجونو د تعلیم د حق د سلبولو لپاره صادر شوي دي.

**د ۲۰۲۱ کال د سپتامبر پر ۱۷مه نېټه د دې ډلې د معارف وزارت د نوي تعلیمي کال لپاره د نجونو د ښوونځیو له پرانستلو ډډه وکړه.[۲۳] خو وروسته یې وویل چې «د تعلیم مخالف نه دي» او د نجونو ښوونځي به پرانیزي.[۲۴] سره له دې د ۲۰۲۲ کال د مارچ پر ۲۳مه طالبانو اعلان وکړ چې د نجونو ښوونځي به تر هغه وخته رخصت وي چې د نجونو زده کوونکو پوښاک د فرهنګ او اسلامي شریعت مطابق طرحه کېږي.[۲۵]**

د ۲۰۲۲ کال د اپرېل پر ۲۷مه نېټه طالبانو اعلان وکړ چې د نجونو او هلکانو د «اختلاط د بشپړ له منځه وړلو» لپاره یې د هیواد د پلازمېنې په پوهنتونونو کې د اونۍ درې ورځې د هلکانو محصلینو او درې ورځې د نجونو محصلینو لپاره ځانګړې کړې دي.[۲۶]

وروسته، د ۲۰۲۲ کال د ډسامبر پر ۱۹مه د طالبانو د لوړو زدکړو وزارت ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته امر وکړ چې تر دویمې خبرتیا پورې نجونو محصلینو ته ټولګي ته د ننوتو اجازه ور نکړل شي. په هغه لیک کې چې د طالبانو د لوړو زده کړو وزیر لاسلیک کړی و، له ټولو پوهنتونونو وغوښتل شول چې سمدستي دغه حکم اجرا کړي.[۲۷] ندا محمد ندیم د دې تصمیم د توجیه لپاره وروسته وویل چې نجونو محصلینو اسلامي پوښاک نه رعایتاوه، له شرعي محارمو پرته به درسي ټولګیو کې حاضرېدلې، له هلکانو محصلینو سره یې په یو ټولګي کې درس ویلو او له محرم پرته یې له یو ولایت څخه بل ته سفر کاوه.[۲۸]

22 . د ملګرو ملتونو سازمان، د جنسيتي برابرۍ او توانمندۍ سازمان، «د طالبانو د درې کاله تسلط وروسته افغانې ښځې»، (۲۰۲۴ اګست)، https://www.unwomen.org/en/articles/faqs/faqs-
afghan-women-three-years-after-the-taliban-takeover

23 . بي بي سي فارسي، «د افغانستان ښوونځي پرانستل شول خو د نجونو له حضور پرته»، (سپتامبر ۲۰۲۱)، https://www.bbc.com/persian/afghanistan-58608405

24 .اسوشیټډ پریس، «له اسوشیټډ پریس سره مرکه: طالبان ژمنه کوي چې نجونې ژر په ښوونځیو کې نوم لیکنه وکړي؟؟؟»، (جنوري ۲۰۲۲)، https://apnews.com/article/afghanistan-
education-united-nations-kabul-taliban-c07aefcb90b560bc82b60b17d9623833

25 . د بښنې نړیوال سازمان، «افغانستان: د ښوونځیو له پرانستلو څخه د طالبانو پر شا تګ د نجونو لپاره د هغوی پر راتلونکي نه جبرانیدونکې اغېزې لري»، (مارچ ۲۰۲۲)، https://www.amnesty.org/
/afghanistan-talibans-backtrack-on-school-re-opening-for-girls-irreversibly-impacts-their-future/03/en/latest/news/2022

26 . هشت صبح، «په پوهنتونونو کې جنسيتي تفکیک؛ خلک د طالبانو د لوړو زدکړو وزارت ته له زدکړو سره د مبارزې وزارت وايي»، (۲۷ اپریل ۲۰۲۲). https://8am.media/fa/gender-segregation-in-
/universities-people-call-the-taliban-ministry-of-higher-education-the-ministry-of-education

27 . ګارډین، «طالبانو افغانې ښځې په پوهنتونونو کې له زدکړو منعه کړې»، (ډسامبر ۲۰۲۲)،https://www.theguardian.com/world/2022/dec/20/taliban-ban-afghan-women-university-
education

28 . دویچه ویله، «د طالبانو د لوړو زدکړو وزیر د ښځو د تحصیل د بندولو دفاع وکړه»، (ډسامبر ۲۰۲۲)، https://www.dw.com/fa-af/%D9%88%D8%B2%DB%8C%D8%B1-%D8
%AA%D8%AD%D8%B5%DB%8C%D9%84%D8%A7%D8%AA-%D8%B9%D8%A7%D9%84%DB%8C-%D8%B7%D8%A7%D9%84%D8%A8%D8%A

د طالبانو دې اقدام د سیمې او نړۍ په کچه پراخ غبرګونونه راوپارول. ښځو سره د تبعیض د مخنیوي کمېټې د ښځو د تعلیم او تحصیل د بندولو اړوند د طالبانو تصمیم وغانده او هغه یې ښځو سره د هر ډول تبعیض د مخنیوي کنوانسیون د مندرجو مقرراتو د نقض په ګډون د بین المللي عرفي او الزامي تعهداتو ښکاره نقض وباله. [٢٩]

په هیواد کې دننه هم لاریونونه وشول. لاریون کوونکو ښځو د سوله ییزو لاریونونو او غونډو په جوړلو د هیواد په ځینو برخو کې د طالبانو پر دې تصمیم اعتراض وکړ. همدا راز، د پوهنتونونو ۶۰ تنو استادانو په ټول افغانستان کې په یوځای استعفاوې ورکړې. [٣٠]

د اسلامي همکاریو سازمان هم د طالبانو پر دې تصمیم د ژورې ناهیلۍ په څرګندولو تاکید وکړ چې د افغانستان خلک ښځې او نارینه باید د تعلیم د حق په ګډون له اساسي حقونو څخه برخه من شي. [٣١] خو طالبانو دې ډول غبرګونونو ته له هیڅ ډول اعتنا او د ښځو د تعلیم او تحصیل اړوند خپلو قانوني ژمنتیاوو ته له پاملرنې پرته، لا نورو سختو محدودیتونو پلي کولو ته دوام ورکړ. لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د جنوري پر ۲۸مه نېټه د لوړو زدکړو وزارت دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته د یو رسمي لیک په لېږلو د کانکور په آزموینه کې د ښځو او نجونو ګډون منعه کړ. په دې لیک کې په ټول هیواد کې له فعالو پوهنتونونو غوښتل شوي ؤ چې تر بلې خبرتیا پورې ښځې او نجونې په کانکور ازموینه کې د ګډون حق نه لري. [٣٢]

د دې اقداماتو پر دوام د طالبانو د معارف وزارت ښوونځیو ته امر کړی چې د لوړ قد لرونکو نجونو ته که هغه له شپږم ټولګي ښکته هم وي ټولګي ته د ننوتو اجازه ور نکړل شي. [٣٣] همدا راز، د کندهار او ارزګان ولایتو په ګډون په یو شمېر ولایتونو کې د طالبانو د معارف وزارت ښځې او نجونې د خصوصي صحي علومو په مرکزونو کې هم له زدکړو منعه کړې، په داسې حال کې چې د هیواد په نورو برخو کې نجونې د امربالمعروف اداري له خوا د ټاکل شویو مقرراتو په رعایتولو سره کولای شي په دې مرکزونو کې درس ووایي. [٣٤]

7%D9%86-%D8%A7%D8%B2-%D9%85%D9%85%D9%86%D9%88%D8%B9%DB%8C%D8%AA-%D8%AA%D8%AD%D8%B5%DB%8C%D9%84-%D8%B2%D9%86%D8%A7%D9%86-%D8%AF%D9%81%D8%A7%D8%B9-%DA%A9%D8%B1%D8%AF/a-64194225

29 . د ملګرو ملتونو سازمان د عالي کمیشنرۍ دفتر، ښځو سره د تبعیض د له منځه وړلو کمېټه، «افغانستان: په ښوونځیو کې د ښځو د تحصیل د منعه کولو او د کار مخنیوی د ټول هیواد راتلونکی په خطر کې اچوي»، (۲۲ دسامبر ۲۰۲۲). afghanistan-banning-women-and-girls-schools-and-workplace-jeopardises-/12/https://www.ohchr.org/en/statements/2022 the%20world%27s%20biggest%20gender%20gaps,entire#:~:text=GENEVA%20(29%20December%202022)%20%E2%80%93

30 . افغانستان انټرنیشنال، «د جنسیتي آپارتاید په اعتراض کې د افغانستان د پوهنتونو له ۶۰ د ډېرو استادانو ډله ییزه استعفا»، (۲۳ ډسامبر ۲۰۲۲)، https://www.iranintl.com/202212238665

31 . د اسلامي همکارۍ سازمان، «د موقت حکومت له خوا د ښځو د تحصیل د منعه کولو له امله د اسلامي همکاریو سازمان اندېښنه»، (۲۴ مارچ ۲۰۲۲)، https://www.oic-oci.org/topic/?t_id=33958&t_ref=22699&lan=en

32 . رواداري، «د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضیت»، (۲۰۲۳ اګست)، RW_AFGHumanRights2023_Dari./08/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023 pdf

33 . رواداري، «د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت»، (۲۰۲۴ اګست)، RW_MidYear2024_HRReport_Dari./08/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024 pdf

34 . رواداري، «د حذف او ځپلو دوام؛ په ۲۰۲۳ کال کې د بشر حقونو د وضعیت رپوټ»، (۲۰۲۴ مارچ)، RW_MidYear2024_/08/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024 HRReport_Dari.pdf

په داسې حال کې چې له ۱۵ کلونو پورته د بې سواده ۱۲ ملیونه نفوس څخه ۷.۲ میلیونه یې ښځې تشکیلوي.[۳۵] طالبانو وروسته د ښځو لپاره د سواد او حرفې د زده کړې پروګرامونه هم منعه کړل. هغه اقدام چې ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون کې د مندرجو مقرراتو ښکاره نقض دی، چې دا کنوانسیون دولتونه مکلفوي چې د ښځو او نارینه و تر منځ تعلیمي واټن راکم کړي. سربېره پر دې، طالبانو په تېرو درې کلونو کې په منظم او سازمان شوي ډول تعلیم ته د ښځو د لاسرسي ټولې زمینې او فرصتونه له منځه وړي او د ملګرو ملتونو د ښوونیز، علمي اوفرهنګي سازمان د وروستیو آمارو پر بنسټ، دا مهال په شرایطو د برابرو نجونو شمېر چې د طالبانو له خوا په عمدي ډول د تعلیم له حق څخه محرومې شوې دي ۱.۴ میلیونه تنه رسیږي.[۳۶] د تعلیم په اړه د طالبانو تبعیضي پالیسۍ د افغانستان د خلکو په ځانګړي ډول د ښځو د پرله پسې اعتراضونو سره مخ شوې دي. خو طالبانو له تاوتریخوالي په ډک ډول دغه اعتراضات ځپلي دي.

# د معترضو ښځو شکنجه کول، جنسي تېری او وژل

د ښځو پر اساسي ازادیو د محدودیتونو سختولو او له عمومي ژوند څخه یې له سیستماتیک حذف سره ښځو او په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو مدافعانو د هیواد دننه سوله ییز لاریونونه او غونډې وکړې. هغوی په کابل او یو شمېر ولایتونو کې د تعلیم او تحصیل له حق څخه د عمدي محرومیت په ګډون د طالبانو په تبعیضي سیاستونو اعتراض او لاریونونه وکړل او د ښځو پر انساني حقونو او آزادیو د لګول شویو محدودیتونو لرې کلوو غوښتنه یې وکړه.

**طالبانو دا لاریونونه او غونډې له تاوتریخوالي په ډکه طریقه وځپل او لاریون کوونکې ښځې یې ونیولې، شکنجه او تهدید یې کړې.[۳۷] طالبانو یو شمېر دغو لاریون کوونکو ښځو باندې په بند خونو کې جنسي تیري وکړ او یو شمېر یې ووژلې.[۳۸]**

لکه څنګه چې د ۲۰۲۱ کال د سپتامبر پر ۱۶مه په مزار شریف کې ۸ تنه لاریون کوونکې ښځې چې د اعتراضي پروګرامونو په جوړولو کې یې نقش درلود، په مرموز ډول ووژل شوې.[۳۹] په همدې حال کې، د ګاړدین او رخشانه رسنۍ د ګډ راپور پر بنسټ، د طالبانو وسله وال کسان وروسته له هغې چې په زندان کې پر یوې لاریون کوونکې

35 . د ملګرو ملتونو ښوونیز، علمي او فرهنګي سازمان، «یونیسکو د ټولو افغانانو تر څنګ دریږي چې ځوانان او د ډېر عمر لرونکي او په ځآنګړي ډ،ل ښځې تر ۲۰۳۰ کال پورې سواد او مهارت ته لاسرسی ولري»، ۲۰۲۳ اپرېل ۲۰»، https://www.unesco.org/en/articles/unesco-stands-all-afghans-ensure-youth-and-adults-afghanistan-especially-women-and-girls-achieve

36 . دملګرو ملتونو تعلیمي، علمي او فرهنګي سازمان، «افغانستان: ۱۰.۴ میلیونه نجونې د حاکمو چارواکو له خوا د تعلیم له حق څخه محرومې شوې دي»، https://www.unesco.org/en/articles/afghanistan-14-million-girls-still-banned-school-de-facto-authorities

37 . د بشر حقونو ځانګړی راپور ورکونکي: «په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت»، ۲۰۲۲ سپتامبر ۲۰)، https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ahrc516-situation-human-rights-afghanistan-report-special-rapporteur

38 . رواداري، «د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت»، RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf/08/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023

39 . رواداري، پر شا تګ او ځپنه، د افغانستان حقوق بشري وضعیت»، (۲۰۲۲ ډسامبر، One-Year-of-Taliban-Rule-in-Afghanistan-/12/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2022 Dari.pdf



Bilal Guler Anadolu Getty Images :انځور

ښځې تېرې کوي، له هغې فلم اخلي او وروسته يې د تهدید په توګه قرباني ته لېږي چې د طالبانو پر ضد د انتقادي پروګرامونو له جوړولو ډډه وکړي. [٤٠]

سره له دې، طالبانو د ښځو د عدالت غوښتونکو غونډو او هر ډول اعتراض او انتقاد د ځپلو لپاره هر ډول له تاوتريخوالي ډکې لارې وکارولې. د کابل لپاره د طالبانو پخواني والي په يو ويډيويي پيغام کې چې د ټولنيزو شبکو له لارې خپور شو د ۲۰۲۲ کال په مې مياشت کې وويل: «طالبانو سره مخالفت حرام دی او د دې نظام مخالفين واجب القتل دي»[٤١] د ۲۰۲۲ کال د ډسامبر پر ۲۵مه په کندهار کې د طالبانو والي معترضان بغاوتګر وبلل او تر خپل کنترول لاندې ټولو ادارو ته يې امر وکړ: «هغه کسان چې حکومت تخريبوي هغوی د قانون منګولو ته وسپارئ چې شرعاً محاکمه شي.»

په پوهنتونونو کې د نجونو د تحصيل له منعه کولو وروسته، په کابل، کندهار، ننګرهار، پکتيا، تخار، بلخ، نيمروز، باميان، ميدان وردګ، هرات او نورو ولايتونو کې د پوهنتونونو استادانو او محصلينو د نجونو د تحصيل د منعه کولو په اعتراض کې د «يا ټول يا هيڅ يو» په شعار درسي ټولګي پرېښودل او خبرداری يې ورکړ چې تر هغه وخته چې طالبان د خپل دې تصميم په اړه تجديد نظر و نه کړي ټولګيو ته به حاضر نه شي. سره له دې؛ رواداري داسې معلوماتو ته لاسرسی موندلی چې طالبان دا معترضان ونيول، شکنجه يې کړل او حتا په مرګ يې وګواښل. [٤٢]

د رواداري موندنې ښيي چې د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه د ۲۰۲۴ کال تر جولای پورې طالبانو کم تر کمه ۷۸ معترضې ښځې ونيولې او بندياني يې کړې. [٤٣] د بېلګې په توګه،

**د ۲۰۲۳ کال د فبروري پر ۱۱مه نېټه طالبانو په تخار ولايت کې يوه لاريون کوونکې ښځه له خپل ورور سره يو ځای ونيوله. دا ښځه د ښځو اړوند د طالبانو د تبعيضي اقداماتو او سياستونو د نقدولو له امله نيول شوې وه. [٤٤] له کندهار حوزې څخه يو تن رواداري ته وويل چې هغه په يوه تلويزيوني مرکه کې د ښځو د تعليم د منعه کولو اړوند د طالبانو پر سياستونو انتقاد کړی و، چې د طالبانو له خوا له دندې لرې او په مرګ تهديد شوی دی. هغه زياته کړه چې طالبان يوه شپه د هغه کور ته ورغلل او په تهديد سره يې ژمنه ترې واخسته چې نور د طالبانو په اړه څه و نه وايي.**

40 . ګارډينو «يوه ويډيو ښيي چې د طالبانو په زندان کې يوه ښځه تر ډله ييز تيري لاندې راغلې»، (۳ جولای ۲۰۲۴)، https://www.theguardian.com/global-development/article/2024/jul/03/video-appears-to-shows-gang-rape-of-woman-in-a-taliban-jail?utm_term=Autofeed&CMP=twt_gu&utm_medium&utm_source=Twitter#Echobox=1720002279

41 رواداري، «پر شاتګ او ځپنه، د افغانستان د بشر حقونو وضعيت»، (ډسامبر ۲۰۲۲)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2022/12/One-Year-of-Taliban-Rule-in-Afghanistan-Dari.pdf

42 د رواداري رسنيزه اعلاميه، «طالبانو د ښځو د تحصيل د منعه کولو پر وړاندې اعتراض کوونکي ونيول شکنجه او تهديد يې کړل»، ۲۲ ډسامبر ۲۰۲۲)، https://x.com/rawadari_org/status/1605680242894417921?s=12

43 . رواداري، «واک ته د طالبانو د بيا راستنېدو د درېيم کال او د بشر حقونو د پراخ نقض په اړه خبري اعلاميه»، (۱۴ آګست ۲۰۲۴)، https://rawadari.org/140820241858.htm/

44 . رواداري، «د ۲۰۲۳ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د بشر حقونو وضعيت»، (آګست ۲۰۲۳)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf

همدا راز، په یو بل مورد کې له دې ولایت څخه د زده کړو یو فعال چې پر خپل فیسبوک پاڼه یې د ښونځیو او پوهنتونونو دروازو بندولو باندې اعتراض کړی و د طالبانو له خوا ونیول شو او د دوه میاشتو لپاره بندي شو. هغه په دې موده کې سخت شکنجه شوی او ناوړه چلند ورسره شوی. سربېره پر دې، د کنړ ولایت پوهنتون د رهبرۍ پلاوي د دې پوهنتون یو استاد چې د تعلیم له حق څخه د نجونو د قصدي محرومیت له امله یې پر فیسبوک پاڼه انتقاد کړی و، له مخکنۍ اطلاع پرته یې له دندې ګوښه کړ.

## د «امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون» له خپرېدو وروسته په تعلیمي او تحصیلي ادارو کې د محدودیتونو سختېدل


په داسې حال کې چې ښځو سره د تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسیون تاکید کړی چې د هر ډول تقلیدي او کلیشه ای مفهوم د له منځه وړلو لپاره باید د هلکانو او نجونو د مختلط تعلیم د تشویق لپاره په ټولو کچو اقدامات ترسره او پلي شي.[45] خو د طالبانو د معارف وزارت، د لومړنیو ښوونځیو او د صحي تعلیمي مراکزو درسي ټولګي سره بېل کړي دي او په دې ترتیب نارینه استادان ښځینه محصلینو او ښځینه استادانې هلکانو محصلینو ته د تدریس اجازه نه لري. سربېره پر دې، «د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون» له خپرېدو وروسته په لومړنیو ښوونځیو کې د نجونو زده کوونکو اړوند محدودیتونه لا سخت شوي دي. لکه څنګه چې په وروستیو کې د طالبانو د معارف وزارت په یو شمېر ولایتونو کې ښوونځیو ته امر کړی چې له شپږم ټولګي ښکته نجونې هم باید ماسک، دستکشې او «شرعي حجاب» ولري. د بېلګې په توګه، په هرات ولایت کې طالبانو د لومړنۍ دورې ټولو نجونو او هغو نجونو ته چې په روغتیايي انستیټیوټونو کې درس وايي، امر کړی چې باید لوی کالي، ټیکری او ماسک ولري او له آرایش پرته ټولګیو ته حاضر شي. په دې ولایت کې د امربالمعروف د ښځو برخه دنده لري چې د زده کوونکو او محصلینو د پوښاک ډول وڅاري. په کندوز ولایت کې طالبانو د ۴-۶ ټولګیو زده کوونکو نجونو ته امر کړی چې خپل مخ پټ کړي او له «چادرۍ» او ماسک څخه ګټه واخلي. همدا راز، په بدخشان ولایت له شپږم ټولګي څخه ښکته ټولګیو کې نجونې او د روغتیايي انستیټیوټونو محصلینو ته امر کړی چې «نقاب» یا «چادري» واغوندي.

**په خوست، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې د طالبانو د امربالمعروف اداري امر کړی چې له لس کلونو پورته نجونې باید شرعي حجاب ولري. همدا راز په دې ولایتونو کې خصوصي ښوونیز مراکز اجازه نه لري چې له لس کلونو د پورته عمر لرونکو نجونو نوملیکنه وکړي.**

45 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، ښځو سره د تاوتریخوالي د ټولو ډولونو د له منځه وړلو بین المللي کنوانسیون، ۵ بند، ۱۰ ماده، (۱۸ ډسامبر ۱۹۷۹)، https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/convention-elimination-all-forms-discrimination-against-women

ترلاسه شوي شواهد ښيي چې په غور ولایت کې له شپږم ټولګي څخه ښکته نجونو ته د ماسک او دستکشو د نه درلودلو له امله ټولګیو ته د ننوتلو اجازه نه ده ورکړل شوې. په غزني ولایت کې طالبان حتا تصمیم لري چې د دې ولایت د روغتیایي انسټیټیوټونو محصلین بېلې ودانۍ ته ولېږدوي چې نجونې او هلکان محصلین و نه توانیږي د ټولګي پر لاره یو بل ووینې.

**له بل پلوه، په هلمند ولایت کې د امربالمعروف اداري څو خصوصي ښوونځیو ته امر کړی چې د ۱-۳ ټولګیو نجونې او هلکان زده کوونکي باید یوځای او مختلط درس و نه وايي. له ۳-۶ ټولګیو د نجونو او هلکانو درسي ټولګي په دې ولایت کې مخکې سره بېل شوي ؤ. په کندهار ولایت کې هم، د امر بالمعروف اداري هغو نجونو ته چې په پینځم او شپږم ټولګیو کې درس لولي، توصیه کړې چې له شرعي محارمو سره ښوونځي ته ولاړې شي، که څه هم دا امر تر اوسه عملي شوی نه دی.**



انځور: سهراب عمر

# د ښوونځیو او پوهنتونونو د نصاب او درسي پروګرامونو بدلون

که څه هم طالبانو د معارف او لوړو زده کړو د قوانینو د لغوه کولو په اړه په رسمي ډول څه نه دي ویلي، خو د دې راپور موندنې ښودلې چې هغوی یاد قوانین عملاً نه پلي کوي بلکې په سلیقه یي ډول او د کتبي او شفاهي فرمانونو د ټولګې پر بنسټ د تعلیمي او تحصیلي موسسو فالیت په خپل زړه رهبري کوي. سره له دې، دا مهال د تعلیمي او تحصیلي بنسټونو لپاره مشخص قانون وجود نه لري او په همدې دلیل د هیواد د پوهنتونونو او ښوونځیو پر فضا بشپړ هرج و مرج او بې نظمي حاکمه ده.



له بل پلوه، د طالبانو د معارف او لوړو زدکړو وزارتونو په تېرو درېګ کلونو کې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې په درسي پروګرامونو کې ډېر بدلونونه پلي کړي دي. داسې چې اصلي مضامینو ته کمه پاملرنه کیږي او پر ځای یې هغو موضوعاتو ته لومړیتوب ورکول کیږي چې ډېری خپله د طالبانو روایت او تفسیر بیانوي.
سربېره پر دې، په تېرو درېګ کلونو کې د پام وړ مسلکي څواک او د پوهنتونونو استادانو هیواد پرېښی. په همدې دلیل په تعلیمي او تحصیلي موسسو کې د د درسي کیفیت کچه ټیټه شوې. په راتلونکو کرښو کې دا موضوع په تفصیل سره بیانیږي.

د رواداري موندنې ښیي چې طالبانو د ټول هیواد د ښوونځیو او پوهنتونونو په نصاب کې بنسټیز بدلونونه پلي کړي دي. دا بدلونونه ډېری د طالبانو د ایډیالوژۍ/نظریې دودولو او د اسلام دین سختو برداشتونو ته میلان لري.

## الف- د ښوونځیو تعلیمي نصاب

**د ترلاسه شویو شواهدو پر بنسټ، د طالبانو معارف وزارت تر دې مهاله د ژوند مهارتونه، مدني تعلیمات، خط او رسم او په یو شمېر درسي ټولګیو کې وطن دوستي، فرهنګ، د ټولنیزو علومو درسونه، هنر او په شیعه مېشتو ولایتونو کې د جعفري فقهې اړوند مضامین «غیر ضروري مضامین» بللي، د ښوونځیو له درسي نصاب څخه یې حذف کړي او پر ځای یې یا د دیني مضامینو درسي ساعتونه زیات کړي او یا یې نوي دیني مضامین په درسي پروګرامونو کې شامل کړي دي. ټول دیني مضامین چې دا مهال په ښوونځیو کې تدریسیږي او یا نوي د معارف وزارت له خوا په درسي پروګرامونو کې شامل شوي دي د حنفي فقهې اړوند دي.**

د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر پر ۲۵مه د وزارت د (۴) شمېره پرېکړې پر بنسټ او د طالبانو د معارف وزیر په لارښوونه، ټولو ښوونځیو ته امر شوی چې د قرآن کریم او اسلامي تعلیماتو د مضامینو درسي ساعتونه زیات شي. د دې



تعلیمات مدنی
صنف ۷

تعلیمات مدنی
صنف ۹

فرهنگ
صنف ۱۱

فرهنگ
صنف ۱۰

مهارت‌های زنده‌گی

مهارت های زنده‌گی

فرهنگ

تعلیمات مدنی
صنف ۸

پربکړې پر بنسټ «د تبرک لپاره باید درسي ټولګي د قرآن کریم په مضمون پیل شي او حد اقل یو دیني عالم چې له تجوید سره بلد وي او هم یو د قرآن قاري په ټولو ښوونځیو کې استخدام شي.» د دې دوو کسانو دنده له زده کوونکو او محصلینو سره د دیني او اسلامي مسایلو د زده کړې لپاره له هغوی سره مرسته ده.

همدا راز، په دې پرېکړه کې راغلي چې «د ژوند مهارتونه[46] مضمون له لومړي څخه تر درېیم ټولګي له درسي پروګرامونو حذف شي او په دې درسي ساعت کې د قرآن کریم مضمون ور زیات شي. د خط او رسم مضمون چې بېل تدریسیزي، په یو مضمون کې مدغم او تدریس یې په اونۍ کې له څلورو ساعتونو څخه دوو ساعتونو ته کم شي او دوه ساعته نور یې د اسلامي تعلیماتو د مضمون لپاره زیات شي. همدا راز، له څلورم تر شپږم ټولګي د خط او رسم مضامین مدغم شي او تدریس یې په اونۍ کې له څلورو ساعتونو څخه دوه ساعتونو ته را کم شي، او دوه ساعتونه نور د قران کریم او «اسلامي تعلیم او تربیې» مضامین ور زیات شي. همدا راز، د مدني تعلیماتو مضمون،[47] فرهنګ،[48] او رسم له اووم څخه تر نهم پورې له درسي پروګرام څخه حذف شي. د بهرنۍ ژبې د زده کړې درسي ساعت کم او د عربي ژبې زده کړې ته ځانګړی شي. سربېره پر دې، د مدني تعلیماتو او فرهنګ مضامین له لسم تر دولسم ټولګي هم له درسي پروګرام څخه حذف شوي او د تدریس ساعتونه یې د اسلامي ښوونې او روزنې او تفسیر شریف مضامینو ته ځانګړي شوي دي.

د طالبانو د معارف وزارت په دې مصوبه کې د ښوونځیو په درسي پروګرامونو کې د بدلونونو اصلي موخه «د دین د لومړنیو اساساتو زده کول او د ماشومانو د ذهن پیاوړتیا» بللې ده او د مضامینو د حذفولو د توجیه کولو لپاره یې ویلي چې دا «د هیواد له عیني شرایطو او د ورځې له اړتیاوو سره مطابقت نه لري.»[49]

**له بل پلوه، د طالبانو د معارف وزارت په شیعه مېشتو ولایتونو او سیمو کې د جعفري فقه اړوند ټول موضوعات د دینیات له کتابونو حذف کړي او پر ځای یې حنفي فقهه تدریسوي. همدا راز، د طالبانو د پوهنې وزارت د «امارت پېژندنې»، «طالب پېژندنې»، «د داعش پر ضد تبلیغات»، «جهاد» او «له امریکایانو سره د جګړې په اړه معلومات» د ښوونځیو په درسي پروګرامونو کې شامل کړي او د ملي**

46 . د لومړي ټولګي لپاره د ژوند مهارت د مضمون مطالب: ځان پېژندنه، خدای پېژندنه، وطن پېژندنه، ښونځي سره بلدتیا، د سلام اچولو آداب، د حال احوال اخستلو آداب، د خبرو کولو آداب، د مجلس آداب، د خوراک او څښاک آداب، د مور او پلار درناوی، د مشرانو درناوی او... لینک: G1-Dr-Life_Skill.pdf/02-https://moe.gov.af/sites/default/files/2020
د دویم ټولګي د ژوند مهارتونه مضمون مطالب: په کورنۍ او ټولنه کې د ماشومانو چلند او نقش، د ستونزو هواری، د ورځنیو کارونو تنظیم، مرسته کول او مرسته اخستل، د ستونزو هواری، سوله پیز ژوند، دوستي، له نورو سره همدردي، حیوناتو باندې زړه سوی... لینک: G2-Dr-Life_skill.pdf/02-https://moe.gov.af/sites/default/files/2020
د درېیم ټولګي د ژوند مهارتونه مضمون مطالب: پر ځان اعتماد، تصمیم نیونه، جرات، نېکه رویه، عامه شتمنۍ د ماشومانو حقوق، د افهام او تفهیم طریقې، له ارمنو سره مرسته، صبر او حوصله، ګذشت او روغه او... لینک: G3-Dr-Life_Skill.pdf/02-https://moe.gov.af/sites/default/files/2020
47 . د اووم ټولګي لپاره د مدني تعلیماتو د مضمون مطالب: د انسان اساسي اړتیاوې، د کورنۍ اړتیا، څه ډول یوه بریالۍ کورنۍ ولرو، ټولنیزې ډلې او ... لینک: https://moe.gov.af/sites/default/ G7-Dr-Civic.pdf/03-files/2020
د اتم ټولګي د مدني تعلیماتو د مضمون مطالب: ښوونې روزنې ته د اړتیا دلیل، د اقتصادي اړتیاوو د تامین لارې، په ژوند کې د پیسو نقش، په نړۍ کې د اقتصادي اړیکو څرنګوالی، د ټولنیزو خدماتو موسسو او ټولیزو رسنیو سره بلدتیا. لینک: G8-Dr-Civic.pdf/03-https://moe.gov.af/sites/default/files/2020
د نهم ټولګي لپاره د مدني تعلیماتو د مضمون مطالب: دولت او دندې یې، د افغانستان له اساسي قانون سره بلدتیا، له سیاسي نظام او دولت سره بلدتیا، د دولت په اداره کې د خلکو د ګډون څرنګوالی، په افغانستان کې ولسواکي، د ملګرو ملتونو سازمان او د بشر حقونه د نهم ټولګي زده کوونکو ته تدرسیدل. لینک: G9-Dr-Civic.pdf/03-https://moe.gov.af/sites/default/files/2020
48 . ؟؟؟؟؟؟؟؟
49 د طالبانو د پوهنې وزارت، د عمومي تعلیماتو د ښوونځیو په تعلیمي پلان کې بدلونونه، ۴ شمېره پرېکړه، (۲۰۲۳ اکتوبر ۲۵).

**سرود، او د تاریخي څېرو پېژندنه لکه امان الله خان، او نوروز جشن، اساسي قانون، او د «ساکښو» تصویرونه یې د یو شمېر ښوونځیو له درسي کتابونو څخه حذف کړي دي.**

همدا راز، د بشر حقونو، د ښځو د سیاسي مدني، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي ګډون اهمیت اړوند مفاهیم د مدني تعلیماتو او فرهنګ د کتابونو په حذفولو سره د ښوونځیو له درسي نصاب څخه حذف شوي دي.

## ب- د پوهنتونونو تحصیلي نصاب

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت هم په تېرو دريو کلونو کې د ټول هیواد د پوهنتونونو په درسي پروګرامونو کې مهم بدلونونه پلي کړي دي او په دې ترتیب یې نوي موضوعات او مضامین لکه امارت پېژندنه، د قرآن کریم تجوید، ادیان او مذاهب، د اسلام اقتصادي نظام، د اسلام سیاسي نظام، د اسلام ټولنیز او کورنۍ نظام، حنفي فقه، فکر پېژندنه، د اسلامي افکارو تاریخ، اسلامي اخلاقیات او مهم اسلامي شخصیتونه، د نویو او مستقلو مضامینو په توګه د پوهنتونونو په درسي پروګرامونو کې شامل کړي دي.

د رواداري موندنې ښيي چې دا مهال د ټول هیواد په پوهنتونونو کې ډېر درسي واحدونه د حنفي فقهې اړوند دیني او اسلامي مضامینو ته ځانګړي شوي. لکه په هغو پوهنځیو کې چې مخکې یکې د اسلامي ثقافت مضمون په څلور کلنه تحصیلي دوره کې ۶ واحده تدریس کېدل؛ اوس ۲۴ واحدونه تدریسیږي یعنې څلور چنده دغه مضامین زیات شوي دي. همدا راز، د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت د وروستۍ تصمیم پر بنسټ، په هغو پوهنتونونو کې چې د ثقافت مضمون یکې مخکې په ۸ تحصیلي سمسترونو کې ۸ واحده تدریسیدل اوس ۳۶ واحدو ته لوړ شوی او تدریس یې الزامي شوی دی. په هغو پوهنتونونو کې چې دا مضمون په یوه څلورکلنه تحصیلي دوره کې دوه واحده تدریسیدل اوس شپږ چنده زیات شوی. د بامیان ولایت یو مرکه شوي کس ویلي چې د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت د دیني او فرعي مضامینو د واحدونو شمېر چې په تحصیلي رشتو پورې اړیکه نه لري په بې اصوله توګه زیات شوی او پر همدې دلیل اصلي او اختصاصي مضامینو خپل اهمیت له لاسه ورکړی.

**د یادولو وړ ده چې یاد پلي شوي بدلونونه د دیني مضامینو د درسي ساعتونو د شمېر زیاتولو په برخه کې په بېلابېلو ولایتونو کې فرق سره لري. د بېلګې په توګه، له کندهار ولایت څخه یوې سرچینې رواداري ته ویلي، په هغو پوهنځیو کې چې مخې اسلامي ثقافت مضمون اته واحده تدریسیده، اوس یې ۲۴ واحدونو ته زیاتوالی موندلی او هم طالبان تصمیم لري چې د معاصر تاریخ د مضمون منځپانګه یا تعدیل او یا له درسي پروګرام څخه حذف کړي.**

همدا راز، مخکې په یو شمېر پوهنتونونواو نیمه عالي مراکزو کې د بشر حقونه، سوله او ډیموکراسي د اختیاري مضامینو په توګه تدریسیدل، خو اوس طالبانو د دې مضامینو تدریس په بشپړه توګه منعه کړی او پر ځای یې دیني مضامین په درسي پروګرام کې شامل کړي دي. په دې اړه یو مرکه شوي له بدخشان ولایت څخه ویلي چې د بشر حقونو مضمون او د هیوادنیو حقونو، سولې، ډیموکراسۍ او مدني ارزښتونو اړوند موضوعات د لوړو زده کړو د مراکزو له تدرسي پروګرامونو څخه حذف شوي او پر ځای یې د اسلامي ثقافت، فقه او قانون، د اسلام تاریخ، د اسلام اقتصادي نظام، د اسلام سیاسي نظام، د اسلام ټولنیز او کورنۍ نظام او ورته مضمون ور زیات شوي دي. یو بل مرکه شوي رواداري ته ویلي چې طالبان «امارت پېژندنه» کتاب هم په پوهنتونونو کې تدریسوي او د دې کار لپاره په هر پوهنتون کې یو استاد ګمارل شوی دی.

د بشر حقونو مضمون، مخکې د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځیو کې د اساسي مضمون په توګه تدریسیده خو د دې راپور موندنې ښيي چې طالبانو د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د حقوقو پوهنځیو له تحصیلي پروګرام څخه په ځینو ولایتونو کې حذف کړی. د بېلګې په توګه په هرات ولایت کې که څه هم چې د بشر حقونو مضمون د حقوقو پوهنځي په درسي مهالوېش کې شته؛ خو تدریس یې د دې پوهنتون د رئیس په شفاهي امر منعه شوی دی. همدا راز، له دې ولایت څخه د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د بشر حقونو تدریس د یو خصوصي پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې هم د هرات ولایت د پوهنتون د رئیس او د امربالمعروف د آمریت په امر منعه شوی دی.

د دري ادبیاتو مضمون هم له یو شمېر پوهنځیو حذف شوی او په یو شمېر پوهنځیو کې له څلور واحدو څخه دوو واحدو ته کم شوی دی. د بېلګې په توګه، د غور ولایت په پوهنتون کې دري ادبیات چې مخکې په یو شمېر پوهنځیو کې تدریسېدل، دا مضمون یا حذف شوی او یا له څلور واحدونو څخه دوو واحدو نو ته کم شوی دی. همدا راز، د اختصاصي مضامینو د یو شمېر واحدونو شمېر هم په دې پوهنتون کې کم شوی او د اسلامي ثقافت مضمون ور زیات شوی دی.

**سربېره پر دې، د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت د بامیان پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي کې د جعفري فقهې تدریس منعه کړی[50] او پر ځای یې د حنفي فقهې اړوند مضامین په دې او نورو شیعه مېشتو ولایتونو کې اجباري کړي دي. لکه څنګه چې له دایکندي ولایت څخه سرچینو رواداري ته ویلي چې د حنفي فقهې، ثقافت، عقاید او سیرت النبي مضامین د دې ولایت په ټولو تعلیمي او تحصیلي مراکزو کې الزامي شوي دي. په کنړ ولایت کې هم طالبانو د سلفیانو (اهل حدیث) اړوند معلومات د پوهنتونونو له درسي کتابونو څخه حذف کړي دي.**

50 . رواداري، «د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت»، (اګست ۲۰۲۳)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf

یاد بدلونونه، په واقعیت کې د لوړو زدکړو ایډیولوژیک کول او د طالبانو د پام وړ لوري باندې د پوهنتونونو نقش ته لوری ورکول دي چې لا هم دوام لري او لکه څنګه چې مرکه شویو ویلي، ټاکل شوې په تحصلي نصاب کې لا ډېر بدلونونه ترسره شي. سره له دې، د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت په خپله وروستۍ پرېکړه کې د اسلامي ثقافت ټولو استادانو او د شرعیاتو پوهنځیو ته امر کړی چې باید د ډيپارټمنټونو او پوهنځیو د درسي پروګرامونو څارنه وکړي چې د «غیر دیني او غیر ضروري» موضوعاتو د تدریس مخنیوی وشي او د اړتیا وړ بدلونونه په درسي پروګرامونو کې شامل شي. په همدې دلیل، د شرعیاتو استادان به په بیړه ټول مظامین له شرعي نظره و ارزوي او لازم مواد به وړاندیز کړي.

په همدې برخه کې، د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت په وروستیو کې ویلي چې هغوی د طبیعي او ساینسي علومو د تعلیمي او تحصیلي نصاب د بیاکتنې لپاره په عملي ډول اقدام کړی او ریاضي، فیزیک، بیولوژي او کیمیا مضامین له دیني نظره ارزوي.[51]


## د ښوونځیو او پوهنتونونو د کتابتونونو تفتیش

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، طالبانو په څو مرحلو کې د تعلیمي او تحصیلي مراکزو کتابتونونه تفتیش کړي او ډېر شمېر کتابونه په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو او د بشر حقونو اړند کتابونه، مقالې او معلومات یې راټول کړي دي.

**د بېلګې په توګه د طالبانو د پوهنې وزارت د هرات ولایت د امیر علي شیر نوايي د ښځینه لیسې په کتابخانه کې ۱۱۰ عنوانه کتابونه، مجلې او میاشتنۍ د «نامطلوبه» خپرونو په توګه راټول کړي. دا کتابونه ډېری د افغانستان د بشر حقونو د خپلواک کمیسیون خپرونې، د ښځو د حقونو اړوند کتابونه، اساسي قانون، ډیموکراسي او د شیعه مذهب په اړه معلومات دي. په بادغیس ولایت کې هم طالبانو ټول کتابونه چې د ښځو په اړه لیکل شوي راټول کړي دي. په کندهار ولایت کې هم، طالبانو د هغو کتابونو یو لیست چې له کتابتونونو او کتاب پلورنځیو باید راټول شي، خپل د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو ته استولی دی.**

51 . آزادي راډيو، «طالبان: د رياضي او کيميا په ګډون د ساينسي علومو د تحصيلي نصاب له ديني ليدلوري بيا کتنه کوو.»، (۳ سپټمبر ۲۰۲۴)، https://da.azadiradio.com/a/33104197.html.
د تعلیمي او تحصیلي نصاب د بدلون اړوند دوه رسنیو اطلاعات روز او هشت صبح چې په تبعید کې فعالیت کوي هم یو شمېر رپوټونه خپاره کړي دي. لینک: https://8am.media/fa/details-of-the-talibans-curriculum-hatred-and-bloodshed-return-to-books/ و https://www.etilaatroz.com/161946/%D8%A8%D8%A7%D8%B2%D9%86%DA%AF%D8%B1%DB%8C-%D9%86%D8%B5%D8%A7%D8%A8-%D8%A2%D9%85%D9%88%D8%B2%D8%B4%DB%8C-%D8%AA%D9%88%D8%B3%D8%B7-%D8%B7%D8%A7%D9%84%D8%A8%D8%A7%D9%86/

هم مهاله، د ۲۰۲۳ کال د ډسامبر پر ۲۱مه د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت اعلان وکړ چې د خصوصي پوهنتونونو کتابتونونه باید و ارزول شي او هغه کتابونه چې د حنفي فقې سره په ټکر کې وي او یا ټول موارد چې له ایډیولوژیک لحاظه نامناسب وي باید راټول شي.[52] په تعقیب یې د ۲۰۲۴ کال د جون پر ۶مه په بامیان ولایت کې د طالبانو پوهنې ریاست د دې ولایت ټولو ښوونځیو ته امر وکړ چې د جعفري فقهې مضمون د نویو کتابونو تر چاپېدو پورې راټول کړي.[53] ترلاسه شوي شواهد ښيي چې د طالبانو د پوهنې وزارت (که ریاست) په غزنې ولایت کې هم دیني مضامین او د جعفري فقهې اړوند کتابونه په جغتو ولسوالۍ کې د ښوونځیو له کتابتونونو څخه راټول کړي دي او هم یې د امربالمعروف، استخباراتو او اطلاعات او کلتور له استازو څخه جوړه کمېټه توظیف کړې ده چې د شیعه ؤ اړوند کتابونه د دې ولایت د ولسوالیو له ټولو کتابتونونو او کتاب پلورنځیو څخه راټول کړي.



انځور: سهراب عمر

52 . د بشر حقونو ځانګړی ګزارشګر، «په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت»، (۲۹ فبروري ۲۰۲۴)، https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ahrc5580-situation-human-rights-afghanistan-report-special-rapporteur

53 . رواداري، «د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت»، (آګست ۲۰۲۴)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024/08/RW_MidYear2024_HRReport_Dari.pdf

سره له دې، طالبانو په تېرو درې کلونو کې د شیعه ګانو اړوند کتابونه، د ایران چاپ کتابونه او په ځانګړې ډول د دیني نوي فکر په برخه کې لیکل شوي کتابونه، د افغانستان د قومونو او ملیتونو د تاریخ په اړه کتابونه، هغه کتابونه چې د جهادي رهبرانو او د طالبانو د مخالفینو په اړه لیکل شوي، هغه کتابونه او مقالې چې د طالبانو او داعش پر ضد لیکل شوي او هغه کتابونه او مقالې چې د سلفیانو په اړه لیکل شوي دي د چاپ، پلورلو او وېش څخه یې په ټول هیواد کې ممانعت کړی او یو شمېر دغه کتابونه یې تر اوسه راټول کړي دي.[٥٤] په وروستیو کې طالبانو د کابل ښار کتاب پلورنځیو ته د یو لیست په لیږلو د ۴۰۰ عنوانه کتابونو لیست لېږلی او هغه یې منعه کړي دي. د دې لیست پر بنسټ یې هغه کتابونه منعه کړي چې محتوا یې د شیعه ګانو باورونه، عصري حکومتولي، ټولنیزه او دیني جامعه شناسي، ډیموکراسي او سیاسي او ټولنیزې آزادۍ ... دي.[٥٥]

## د غیر مسلکي روزونکو او ښوونکو په ګمارلو سره د تعلیم د کیفیت ټیټیدل

د تېرو درې کلونو په بهیر کې د پام وړ ښوونکو او روزونکو یا خپله دنده پرېښې ده او یا منفک شوي دي. د بي بي سي فارسي د یو راپور پر بنسټ، واک ته د طالبانو د بېرته ستنېدو په لومړیو ۲۰ میاشتو کې یواځې د کابل له پوهنتون څخه ۷۸۰ استادانو څخه تر ۴۰۰ زیات له هیواده وتلي دي.[٥٦]

له بل پلوه، د دې راپور موندنې ښيي چې طالبانو په تېرو درې کلونو کې د هیواد له ښوونځیو او پوهنتونونو څخه ډېر شمېر استادان ګوښه کړي او پر ځای یې غیر مسلکي کسان او په ټوله کې د دیني مدرسو فارغان ګمارلي دي. دا کسان نه د آزاد رقابت او د وړتیا د ازموینې له لارې، بلکې عمدتاً د لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو د حکم پر بنسټ او د استخباراتو د ادارې په تائید ګمارل شوي دي چې په اړوندو رشتو کې پوهه او تخصص نه لري. د بېلګې په توګه،

**د هیواد په جنوب غرب حوزه کې طالبانو هغه کسان په ښوونځیو او پوهنتونونو کې جذب او استخدام کړي دي چې په دې ډله کې د غړیتوب مخینه لري. پر همدې دلیل، دا کسان له استخدامېدو وړاندې باید د استخباراتو د ادارې له خوا تائید شي. په فراه او نیمروز ولایتونو کې، د نویو ښوونکو او روزونکو د استخدام شرط دا دی چې د حنفي مذهب پیرو وي او باید د طالبانو د یو غړي له خوا یې ضمانت وشي.**

54 . رواداري، «محدودیت، څېنه او سانسور: په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي او د بیان د آزادۍ وضعیت»، (مې ۲۰۲۴)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024/04/RW_PressFreedom_Dari.pdf

55 . آمو راډیو ټلویزیون، «طالبانو د ۴۰۰ کتابونو پلورل منعه کړل»، (۲۶ اکتبر ۲۰۲۴)، https://amu.tv/fa/133214/

56 . بي بي سي فارسي، «د کابل پوهنتون له نیمې زیات استادان له افغانستانه وتلي دي»، (۲۲ مې ۲۰۲۳)، https://www.bbc.com/persian/articles/c9e385j5707o

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، په بدخشان ولایت هغه کسان چې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې استادان ګمارل شوي دي ډېری یې پوهنتوني زده کړې نه لري او د پاکستان د دیني مدرسو فارغین دي. په همدې حال، له بامیان ولایت څخه مرکه شویو ویلي چې ټول هغه استادان چې د طالبانو له خوا په تعلیمي او تحصیلي موسسو کې استخدام شوي دي، دیني تحصیلات لري او مسلکي پوهه او تجربه نه لري. دا په داسې حال کې ده چې ډېری دغه کسان اصلي او تخصصي مضامین تدریسوي او همدا مساله په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د کیفیت د ټیټیدو لامل شوې ده. طالبان د عمومي امتحانونو په ترسره کولو د دیني مدرسو له فارغانو سره مرسته کوي چې تحصیلي مدارک یې په پوهنتونونو کې د تحصیل د معیارونو پر بنسټ تائید شي. موخه دا ده چې د دیني مدرسو فارغین په دې ازموینه کې په ګډون سره چې تشریفاتي دي په دولتي ادارو او تعلیمي او تحصیلي موسساتو کې د استخدام پر شرایطو برابر شي.

په خوست، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې طالبانو د ښځینه روزونکو پر ځای چې لازمه ورتیا او تجربه یې درلوده د دیني مدرسو فارغین جذب او ګمارلي دي چې هیڅ ورتیا او لوړې زده کړې نه لري. همدا راز، د دې حوزې په ډېری ښوونځیو او پوهنتونونو کې یې د مخکني حکومت ښوونکي او مسئولین له دندو لرې کړي دي او پر ځای یې داسې کسان ګمارلي چې مسلکي نه دي.

**له بل پلوه، ترلاسه شوي معلومات ښيي چې طالبان د ښوونکو او روزونکو قومي او مذهبي ترلتیا ته هم اهمیت ورکوي. د بېلګې په توګه، په بغلان ولایت کې د دې ډلې د لوړو زده کړو وزارت د تاجیک او ازبیک قومونو پورې اړوند استادان ګوښه کړي دي او پر ځای یې پښتون او نزدې کسان ګمارلي دي. په یو بل ولایت کې د طالبانو د معارف وزارت څلور تنه شیعه مذهبه استادان له یو ښوونځي څخه ګوښه کړي دي او پر ځای یې خپل کسان ګمارلي دي. دا مهال په دې ښوونځي کې دوه شیعه مذهبه ښوونکي تدریس کوي چې د طالبانو د پوهنې ریاست د مسئولینو له خوا تر فشار لاندې راغلي دي چې خپلې دندې پریږدي.**

همدا راز، په کندوز او تخار ولایتونو کې هم ډېری استادان چې د طالبانو له خوا ګمارل شوي دي هیڅ د ورتیا ازموینه یې نه ده اخستې او د طالبانو د سیمه ییزو مسئولینو له قوم او ترلو کسانو څخه دي چې د پاکستان په دیني مدرسو کې یې تحصیل کړی او د سیمې د خلکو ژبې سره هم بلدتیا نه لري. همدا راز، په دایکندي، غزنې او غور ولایتونو کې هم طالبانو داسې کسان په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د ښوونکو په توګه ګمارلي دي چې د سیمې د خلکو ژبې سره آشنایي نه لري. له یادو ولایتونو څخه مرکه شویو ویلي چې په همدې دلیل دا مهال تر ټولو لویه ستونزه د زده کوونکو او نویو ګمارل شویو ښوونکو تر منځ د افهام و تفهیم ده.

د طالبانو له خوا د نویو ګمارل شوو ښوونکو او روزونکو په منځ کې نه یوازې چې هیڅ ښځه نشته بلکې د ۲۰۲۴ کال د جون پر ۳ نېټه، د طالبانو ډلې رهبر حکم صادر کړ چې د هغې پر بنسټ د ټولو ښځو کارکوونکو میاشتنۍ

معاش ۵۰۰۰ افغانۍ ورکړل شي، چې ۷۳ امریکایي ډالر کیږي. دا د معاش تر ټولو کمه کچه ده چې د ښځو لپاره ټاکل شوې ده. معلومات ښيي چې د دې حکم له صادرېدو وروسته، په یو شمېر ولایتونو کې ښځو کارکوونکو همدا معاش ترلاسه کړی په داسې حال کې چې په یو شمېر ولایتونو کې لکه په کندهار کې په حکم کې د شته ابهام له امله، تعلیق شوی ؤ.[57] د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۷مه نېټه، د طالبانو د مالیې وزارت د یو رسمي لیک په صادرولو واضحه کړه چې دا حکم د ملکي خدمتونو په کارکوونکو هغو ښځو پلې کیږي چې هره ورځ د کار ځای ته نه حاضریږي او یا خپلې دندې د دندو د لایحې سره سمې نه ترسره کوي.[58] سره له دې، له غور ولایت څخه ترلاسه شوي معلومات ښيي، هغه ښځینه ښوونکې چې د اونۍ په اوږدو کې له ۲۴ ساعتونو کم تدریس کوي هم معاش یې پینځه زره افغانۍ ټاکل شوی دی. البته دا استثنا د نارینه استادانو په برخه کې نشته.

**له بل پلوه، ترلاسه شوي معلومات ښيي چې طالبانو ښځینه ښوونکې په بېلابېلو پلمو له دندو ګوښه کړي او مجازات کړې دي. د بېلګې په توګه، په بامیان ولایت کې طالبانو یوه ښځه ښوونکې د حجاب اړوند د مقرراتو د نقض په تور له دندې ګوښه کړې ده. په یو بل مورد کې، د ۲۰۲۴ کال په اګست میاشت کې په غور ولایت کې یوه ښځینه ښوونکې چې نجونې یې تشویقولې چې په دیني مدرسو کې درس و نه وایي، د طالبانو له خوا ونیول شوه او په دوه کاله بند او ۳۹ دُرو وهلو محکومه شوه. طالبانو پر دې ښوونکې لګیدلي تور «بې حجابي او زنا» ښودلی دی.**

هغه څه ته په پام سره چې مطرح شول، په تعلیمي او تحصیلي موسسو کې د ښوونې کیفیت ډېر ښکته راغلی او لکه څنګه چې د دې راپور موندنې ښيي، ډېر شمېر نارینه هلکان، لکه په غور ولایت کې، ښوونځي پرېښي او په دیني مدرسو کې یې نوملیکنه کړې. ځکه طالبان د ښوونځیو درسي مضامینو ته اهمیت نه ورکوي او کورنۍ دیني مدرسو ته د خپلو ماشومانو لېږلو ته تشویقوي.

57. روادارۍ، «د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت»، (آګست ۲۰۲۴)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024/08/RW_MidYear2024_HRReport_Dari.pdf

58. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان معاونیت، «په اپرېل-جون ۲۰۲۴ کې په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت»، https://unama.unmissions.org/human-rights-situation-afghanistan-april-june-2024-updateenglish




انځور: سهراب عمر

# د طالبانو له خوا د ښوونځیو او پوهنتونونو د ځارنې لارې چارې او موخې

لکه څنګه چې د دې راپور موندنو ښودلې ده، طالبان د ښوونځیو او پوهنتونونو د وضعیت د ځارنې لپاره ځانګړې لارې چارې نه لري او د نظارت لارې چارې په ولایتونو او په تعلیمي او تحصیلي مراکزو کې فرق سره لري. د بېلګې په توګه، د کابل، لوګر، غزنې، باميان او میدان وردګ په څېر یو شمېر ولایتونو کې طالبانو د «تعلیمي څار» برخه د پوهنې د رياستونو له تشکیل څخه حذف کړې ده او د ځارنې دنده یې د دې رياستونو د «مسلکي انکشاف» برخې ته سپارلې. په داسې حال کې چې په یو شمېر ولایتونو کې لکه د هیواد په سویل لویدیزه حوزه کې د هرې ځارنې لپاره بېلابېل خلک ټاکل کیږي او عمومي او ښاري ځارنه چې مخکې وه له منځه تللې. سره له دې، د تعلیمي او تحصیلي مراکزو له ځارنې څخه د طالبانو لویه موخه، د نجونو زده کوونکو د پوښاک ډول، د امربالمعروف اداری د مقرراتو له رعایت څخه ډاډ ترلاسه کول او د دیني او مذهبي مسایلو زده کولو ته د زده کوونکو تشویق دی. په دې منځ کې تر ټولو ډېر نقش د امربالمعروف د اداری دی چې د ښوونځیو او پوهنتونونو ځارنه کوي. طالبان د ښوونځیو او پوهنتونونو د ځارنې په بهیر کې، په ټوله کې لاندې دوه موخې تعقیبوي.

## الف- د دیني ازموینو اخستل او «امارت پېژندنه»

د طالبانو د ځارنې پلاوی چې عمدتاً د استخباراتو اداری او امربالمعروف د کارکوونکو له خوا تشکیل شوی وي، د دیني پوهې کچه او د شاګردانو، محصلینو او استادانو معلومات د طالبانو او حنفي فقهې په اړه د ازموینو اخستلو او «امارت پېژندنې» له لارې ارزوي. له هلمند ولایت څخه یو ښوونکي رواداري ته ویلي چې د طالبانو د ځارنې پلاوی هر هغه څه چې د هغوی د فکر او ایډیولوژۍ سره سم نه وي بدلوي یې او هر ځل زده کوونکو او ښوونکو ته دیني او مذهبي توصیې وړاندې کوي.

**د دې راپور موندنو ښودلې چې د طالبانو د معارف، اطلاعات او کلتور او استخباراتو اداري په منظم ډول «د امارت پېژندنې ازموینه» د ټول افغانستان په ښوونځیو او پوهنتونونو کې اخلي. په دې ازموینه کې په ځینو ولایتونو کې ۵۰ پوښتنې او په ځینو ولایتونو کې ۲۵۰ پوښتنې چې ډېری یې د استخباراتو د اداري له خوا طرحه کیږي، له ګډونوالو څخه پوښتل کیږي. ټول زده کوونکي، محصلین او استادان مکلف دي چې پکې ګډون وکړي.**

د دې پوښتنو لویه برخه د «اسلامي امارت» د تاسیس د موخو، د ملا عمر ژوند، له امریکایي ځواکونو او نورو بین المللي ځواکونو سره د جګړې اړوند وي. د دې پښتنو ځینې بېلګې دا دي: «ملا محمد عمر په کوم کال کې په یوه مذهبي کورنۍ کې دنیا ته راغی؟»، «کومه پینځه کلنه دوره د پټ جهادي دعوت او فعالیت مرحله وه؟»، «د اشغال پر مهال، د کابل ګوډاګی اداره په کوم ډول فساد ککړه وه؟»، «اسلامي امارت څه ډول د ناټو ځواک ته

ماتې ورکړه؟» او همدا راز، په یو بل ځای کې پوښتل شوي دي چې «په شل کلن جهاد کې کوم کال د امریکایانو لپاره ډېر خونړی او سخت و؟»

له بامیان ولایت څخه یو مرکه شوي ویلي چې «د طالبانو د امربالمعروف له خوا په پوهنتونونو کې د دیني ازموینو د اخستلو تصمیم په واقعیت کې د عقایدو یو ډول تفتیش دی چې طالبان غواړي د خلکو عقاید حتا په تر ټولو لوړ تحصیلي بنسټ کې تفتیش کړي او ټول باورونه او عقاید له خپلو عقایدو سره همغږي او پلوي کړي.» دې مرکه شوې همدا راز ویلي چې: «هغه کسان چې د پوهنتونونو استادانو ته دیني او مذهبي مسایل تدریسوي، خپله په دې برخه کې جدي ستونزې لري.»

په غور ولایت کې مرکه شویو ویلي چې د طالبانو د امربالمعروف مامورین هر ځل چې د ښوونځیو خارنه کوي نجونې او هلکان زده کوونکي «د کفارو او منکراتو پر وړاندې جهاد» ته تشویقوي او د دیني مسایلو اړوند هغوی ته کورنۍ دندې ورکوي او په بله خارنه کې یې ارزونه کوي. همدا راز، له غزني ولایت څخه یو مرکه شوي ویلي چې طالبان په منظم ډول دیني او عقیدتي موضوعات د پوهنتونونو اداري کارکوونکو ته هره ورځ برابروي او د تعلیمي او تحصیلي مرکزونو لپاره د ورځني لمونځ ځانګړي ځایونه ټاکل شوي دي.

## ب- د زده کوونکو او محصلینو د پوښاک د ډول خارنه

طالبان په دې خاطر د ښوونځیو او پوهنتونونو خارنه کوي چې د «امربالمعروف قانون» د اجراء او د زده کوونکو او محصلینو د پوښاک اړوند ډاډ ترلاسه کړي، نه د دې لپاره چې ښوونیز کیفیت و ارزوي او شته اندېښنو او اړتیاوو ته رسیدګي وکړي. لکه څنګه چې په یوه مرکه کې له غزني ولایت څه ویل شوي چې د امربالمعروف اداري مامورین په اونۍ کې دوه تر درې ځلې د تعلیمي او تحصیلي مرکزونو خارنه کوي او هر ځل لا سخت مقررات وړاندې کوي چې زده کوونکي، محصلین او استادان یې په پلي کولو مکلف ګرځول کیږي. له کندوز ولایت څخه مرکه شویو رواداري ته ویلي چې د صحي علومو په انسټیټیوټونو کې د محصلینو د پوښاک اړوند سخت محدودیتونه وضعه شوي دي او پرله پسې یې د پلي کېدو خارنه کوي. هغه نجونې چې «برقع» (هغه چادري چې د محصلینو مخ پټوي؟) وا نه غوندي په دې مراکزو کې د تحصیل اجازه نه لري، تر دې چې څو نجونې په دې ولایت کې د هغه څه له امله چې د حجاب او اسلامي پوښاک اړوند د طالبانو د مقرراتو نقض ورته ویل کېږي، د صحي علومو له انسټیټیوټونو څخه ویستل شوې دي.

د طالبانو د څارنې پلاوی له نارینه زده کوونکو، محصلینو او استادانو غواړي چې «صورت او سیرت» یې باید د امربالمعروف اداري له خوا د ټاکل شویو معیارونو سره سم وي. په دې اړوند، د غزني او لوګر دوو تنو ښوونکو ویلي چې د خولۍ او اوږدې ږیرې نه درلودلو له امله د طالبانو د څارونکو له خوا تهدید شوي دي. د دې دوو ولایتونو په یو شمېر ښوونځیو کې د امربالمعروف مامورین هغه روزونکي چې لنډې ږیرې یې درلودې غیر حاضر شمېرلي او تهدید کړي دي چې که بیا ږیرې کمې کړي، منفک به شي. همدا راز، ټول هلکان زده کوونکي او محصلین مکلف دي چې سپینه خولۍ پر سر کړي. په دې اړه له غزني ولایت څخه یو مرکه شوي ویلي چې د

امربالمعروف مامورینو استادان، زده کوونکي او د ښوونځیو اداري کارکوونکي د سپینې خولۍ نه درلودلو له امله تهدید کړي دي.

# د طالبانو په تعلیمي او تحصیلي نظام کې د بشري حقونو د معیارونو نقض

د بشر حقونو زده کړه په ښوونځیو او پوهنتونونو کې له دې امله مهمه ده چې د بشر حقونو له مخنیوي، تاوتریخوالي له منځه وړلو، د زغم او د نورو عقایدو ته درناوي کې مرسته کوي. په همدې دلیل ښوونیز نظام باید داسې فرصت رامنځته کړي چې د بشر حقونو له ارزښتونو سره په تناسب کې د ماشومانو پوهه، مهارت او لیدلورې پیاوړې شي. د ماشوم د حقونو بین المللي کنوانسیون د ۲۹مې مادې لومړی بند وايي چې: «ټول دولتونه توافق کوي چې د بشر حقونو د تفهیم، بنسټیز آزادیو او د ملګرو ملتونو سازمان په منشور کې د مندرجو اصولو په مسیر کې اوسي» همدا راز، د همدې مادې په ت فقره لومړي بند کې وايي چې تعلیم باید «د آزادۍ او د تفاهم، سولې، مدارا، د ښځې او نر تر منځ د مساوات او د ټولو خلکو، قومي ، ملي او مذهبي ډلو او ځایي وګړوتر منځ تفاهم په روحیې د مسئولانه ژوند لپاره د ماشومانو د تیارولو»[59] په مسیر کې وي.

هغه څه ته په پام سره چې په مخکنیو مباحثو کې هم مطرح شول، طالبانو په یو شمېر تعلیمي او تحصیلي مراکزو کې د بشر حقونو او هیوادنیو حقونو، سولې، ډیموکراسۍ او د ښځو د حقونو اړوند موضوعات د ښوونځیو او پوهنتونونو له تعلیمي نصاب څخه حذف کړي او تعلیمي فضا د تعلیم د موخو او په بین المللي اسنادو کې د ټاکل شویو معیارونو پر خلاف مدیریت کوي.

## الف- د جنسیتي نابرابرۍ، کرکې او ښځو سره د تبعیض دودول

ښځو سره د هر ډول تبعیض د مخنیوي کنوانسیون تصریح کړې ده چې غړي دولتونه مکلف دي په ټولو کچو کې د ښځو او نارینه و له نقش څخه د هر ډول تقلیدي او کلیشه يي مفهوم د له منځه وړلو لپاره لازم اقدامات وکړي او په ټولو کچو او ټولو تعلیمي بنو کې د هلکانو او نجونو د مختلط تعلیم او نورو تعلیمي طریقو د ډولونو چې دغې موخې ته لاسرسی ممکن کړي تشویق کړي، په ځانګړي ډول په درسي متونو او کتابونو او د ښوونځیو په کتابونو تعلیمي طریقې خپلې او پلې کړي.[60] سره له دې، د دې راپور موندنې ښيي چې طالبان د یادو مقرراتو او موازنو پر خلاف، جنسیتي کلیشې، تاوتریخوالی، تبعیض او ښځو سره کرکه د خپل سیاست او تعلیمي نظام

59 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، د ماشوم د حقونو بین المللي کنوانسیون، (۲۹ نوامبر ۱۹۸۹)، https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/convention-rights-child

60 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، ښځو سره د تاوتریخوالي د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون، ۱۰ ماد، ج بند، (۱۸ ډسامبر ۱۹۷۹)، https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/convention-elimination-all-forms-discrimination-against-women

برخه ګرځولې. د بېلګې په توګه په بدخشان ولایت کې زده کوونکو او محصلینو ته په درسي ټولګیو کې ویل کېږي چې «له کوره بهر د ښځو حضور د صریح دیني نص پر بنسټ، د اسلامي شریعت پر خلاف او غیر اخلاقي کار دی او که چېرې ښځې له نارینه و سره د یو ډول حقونو ادعا وکړي، ټولنه د فساد او تباهۍ په لور ځي.» همدا راز، د دې ولایت په ښوونیزو او تحصیلي مراکزو کې روزونکي وايي چې: «نارینه د ښځو دوه برابره حق لري. د ښځو لپاره د برابرو حقونو غوښتنه د اسلام د دښمنانو کار دی. قران کریم پر ښځو د نارینه و برتري تسجیل کړې او که ښځې د کورنۍ او ټولنې د تصمیم نیونې مسؤلیت ولري، پایله یې اخلاقي فساد او د ټولنې ویجاړې دي».

د مرکه شویو د معلوماتو پر بنسټ، د بغلان ولایت په پوهنتون کې هم د ښځو پر وړاندې سخت توهینوونکي موضوعات په درسي ټولګیو کې مطرح کېږي. د بېلګې په توګه ویل کېږي چې که «ښځې د نارینه و په امر عمل و نکړي، باید ووهل شي. ښځې دا چې ناقص العقلې دي او نشي کولای یو کار په سمه توګه ترسره کړي، باید په ټولو چارو کې له مېړه او یا د کورنۍ له نارینه و څخه مشوره واخلي.» همدا راز، په درسي ټولګیو کې ویل کېږي چې: «نر د ښځې مالک دی او ښځې د نارینه و لپاره پیدا شوې دي، نارینه حق لري له ښځو سره هر ډول چلند وکړي، ښځې د شکایت او نورې کې د مداخلې حق نه لري، ځکه چې دوی یواځې په مالک پورې اړه لري.» دیني روزونکي زده کوونکو او محصلینو ته وايي چې: «که نارینه و کولای شي دویمه، درېیمه او څلورمه ښځه وکړي درناوی یې ډېرېږي.»

**په نیمروز ولایت کې هم یو مرکه شوي ویلي چې د دیني علومو استادان محصلینو ته وايي چې «که ښځه مسجد ته لاړه شي، مسجد چټلېږي او باید لمونځ یکې و نه شي.» په بدخشان ولایت کې طالبانو حتا په علني ډول د جمعې لمونځ په خطبو کې ډېر ځل ویلي چې ښځې او نجونې «د شیطان سفیراني او د فساد او فحشا سرچینه دي چې نارینه بې لارې کوي.» [61]**

یاد موضوعات د ښځو د انساني کرامت ښکاره بې احترامي ده چې په ټولنه کې د لا ډېر تبعیض، تاوتریخوالي او نابرابرۍ د بنسټیز کېدو لامل کېږي او د دې هیواد د ماشومانو او ځوانانو پر تربیې او لیدلوري ضررناکې اغېزې ښندي. پر همدې بنسټ، د تعلیم او تربیې د نظام له لارې د مذهبي بنسټ پالنې او د جنسیتي برترۍ غوښتونکي تفکر د بنسټیز کولو لپاره د طالبانو سازمان شوې هڅې اندېښمنوونکې او خطرناکې دي. ځکه ښځې لا ډېرې له تبعیض او له تاوتریخوالي څخه ډکو چلندونو سره مخامخوي او د هغوی انساني آزادۍ لا محدودوي.

61 . د افغانستان د ماشومانو حقوق بشري وضعیت: د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه د ۲۰۲۳ کال تر اکتوبر پورې د مدني او سیاسي حقونو نقض)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/11/RW_ChildReport_Dari.pdf

د ۱۳ مې مادې په ۲ بند کې «د طالبانو د امربالمعروف» قانون وايي چې «له فتنې څخه د وېرې له امله د ښځې مخ پټول اړین دي». همدا راز، د همدې مادې په ۳ بند کې ویل شوي چې «د ښځو غږ، په زوره سندرې، نعتونه یا تلاوت کول د خلکو په منځ کې عورت دی».[62] دا قانون چې ښځو څخه د طالبانو افراطي او ایډیالوژیک روایت او په ټولنه کې د هغوی نقش بیانوي، په واقعیت کې د ښځو د انساني کرامت تر پښو لاندې کولو او په ټولنه کې جنسیتي تبعیض ته د رسمیت ښنلو ابزار دی. لکه څنګه چې د راپور په مخکنیو برخو کې وضاحت ورکړل شو، له شپږم ټولګې څخه پیټې نجونې هم اړ دي چې اجباري حجاب وکړي لکه ماسک اچول یا «برقع» په سر کول، دستکشې او لوی لباس اغوستل، چې د دې قانون بر بنسټ یې بدن و نه لیدل شي. هممهاله، د رواداري موندنې ښيي چې په لومړني ښوونځي کې نجونې زده کوونکې د سرود لوستلو او شعر دکلمه کولو څخه هم د ښوونځي په سهارنیو پروګرامونو کې منعه شوې دي.

سربېره پر دې، طالبانو په پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په خصوصي موسسو کې استادان د ښځو د حقونو د برابرۍ اړوند موضوعاتو له تدریس څخه منعه کړي دي. د بېلګې په توګه د غور ولایت لپاره د طالبانو والي او د پوهنتون رئیس د دې پوهنتون له استادانو سره په یوه مشورتي ناسته کې امر کړی چې د ښځو د حقونو اړوند موضوعاتو، په ځانګړې ډول له نارینه و سره د ښځو د برابرو حقونو په اړه د بحث کولو څخه ډډه وکړي او که درسي مضامینو کې داسې موضوعات وي، باید تدریس نشي. طالبانو همدا راز له پوهنتونونو او پوهنځیو څخه د ښځو تصویرونه راټول کړي دي.

## ب- د قومي، مذهبي او ژبنیو لږکیو زده کوونکو او محصلینو لپاره د تعلیم حق

د ماشوم د حقونو د بین المللي کنوانسیون له مخې، «په هغو هیوادونو کې چې قومي، مذهبي یا ژبني اقلیتونه موجود دي یا هغه افراد چې ځایي منشا لري، دې ډول اقلیتونو سره تړلې ماشومان یا هغه ماشوم چې ځایي دی باید له خپل فرهنګ، مذهب او د عملي کولو څخه یې برخې نشي یا له خپلې ژبې څخه سره له ټولې ډلې محروم نه شي.»[63] همدا راز، د دې کنوانسیون د ۱۴مې مادې پر بنسټ، ټول ماشومان د مذهب او عقیدې له آزادۍ برخمن دي.[64] د ملي یا قومي، دیني یا ژبنیو اقلیتونو سره د تړلو وګړو د حقونو اعلامیې په صراحت سره ویلي چې: د ملي یا قومي، دیني یا ژبنیو اقلیتونو سره تړلې کسان حق لري په شخصي او ټولنیزه حوزه کې په آزاد ډول او له هر ډول تبعیض یا مزاحمت پرته له خپل فرهنګ څخه برخه من شي، خپل مذهب په ښکاره بیان کړي او مراسم یې تر سره کړي او خپله ژبه وکاروي.[65]

62 . د طالبانو د عدليې وزارت، د امربالمعروف او نه عن المنکر قانون، (۳۱ جولای ۲۰۲۴).

63 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د ماشوم د حقونو بین المللي کنوانسیون، ۳۰ مه ماده، (۲۰ نوامبر ۱۹۸۹)، https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/convention-rights-child

64 هماغه سرچینه، ۱۴مه ماده

65 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د ملي یا قومي، دیني او ژبنیو اقلیتونو د اړوندو افرادو اعلامیه، ۲ ماده، لومړی بند، (۱۸ دسامبر ۱۹۹۲)، https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/declaration-rights-persons-belonging-national-or-ethnic#:~:text=States%20shall%20protect%20the%20existence,measures%20to%20achieve%20those%20ends.

په تعلیم کې د تبعیض د مخنیوي کنوانسیون ۵مه ماده کې، د تعلیمي فعالیتونو ترسره کولو لپاره لکه د مدرسو جوړولو او د هر هیواد د تعلیمي سیاست پر بنسټ د هر غړي هیواد په ښوونځیو کې د خپلې ژبې د کارولو یا تعلیم لپاره حق په رسمیت پېژندل اړین دي.

## ۱. په مورنۍ ژبه د زده کړې حق

په مورنۍ ژبه زده کړه ځکه مهمه ده چې په اوږد مهال کې د ژبې د بقا امکان برابروي. په همدې دلیل دا حق د بشر حقونو په ډېر شمېر اسنادو کې تضمین شوی. د قومي اقلیتونو اړوند اعلامیې د څلورمې مادې څلورم بند د قومي، ملي، مذهبي او ژبنیو اقلیتونو په اړه وایي: «متبوع ملتونه د امکان په صورت کې په مورنۍ ژبه د تحصیل په برخه کې لازم تمهیدات او تشویق او د سنتونو د تاریخي معلوماتو ترلاسه کول، ژبه او هغه فرهنګ چې په قلمرو کې دننه یې پیروان لري، پلي کوي.»[٦٦] همدا راز، د مورنۍ ژبې په منشور کې چې د ملګرو ملتونو د تعلیمي، علمي او فرهنګي سازمان له خوا برابر شوی، راغلي چې «د ښوونځیو ټول زده کوونکي باید خپل رسمي تحصیلات په خپله مورنۍ ژبه پیل کړي. ټول دولتونه موظف دي چې د مورنۍ ژبې د پیاوړتیا او تعلیم لپاره ټولې سرچینې، مواد او لازم وسایل تولید او وویشي.»[٦٧]

د دې راپور موندنې ښیي چې پر افغانستان د طالبانو له تسلط وروسته، که څه هم ډېری ماشومان پر خپلې مورنۍ ژبې زده کړې ته لاسرسی لري؛ خو په یو شمېر ولایتونو کې دا حق د قومي او ژبنیو اقلیتونو د ماشومانو لپاره محدود شوی دی. د بېلګې په توګه، په بدخشان ولایت کې د جمهوریت پر مهال، دري ژبې سربېره په نورو قومي او ژبنیو اقلیتونو پورې اړوندو سیمو کې د ښوونځي د لومړنیو او منځنیو دورو مضامین د هغوی په ژبه هم تدریسېدل او په ازبکي، بلوچي او پامیري ژبو هم کتابونه چاپ شوي ؤ. خو واک ته د طالبانو له راستنېدو وروسته، په دې سیمو کې په مورنۍ ژبه په دې سیمو کې تعلیم بند شوی او دا مهال یواځې په دري ژبه زده کوونکو ته درس ورکول کیږي. سره له دې، ترلاسه شوي شواهد ښیي چې په ټوله کې طالبانو په پامیري مېشتو ولسوالیو کې په مورنۍ ژبه زده کړه درولې ده.

همدا راز، د کندوز او تخار ولایتونو په ازبک مېشتو سیمو کې، طالبانو تصمیم درلود چې په ازبکي ژبه زده کړه منعه کړي او په شفاهي توګه یې ښوونځیو ته امر وکړ چې د ازبکي کتابونو تدریس منعه کړي؛ خو دا موضوع د یو شمېر ښوونکو او د سیمې د اوسېدونکو له اعتراض سره مخامخ شو چې د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، دا مهال په هغو ښوونځیو کې چې مسئولین یې ازبک ژبي دي په درسي پروګرام کې ازبکي کتابونه شته او تدریسیږي.

66 هماغه بند ۴، ماده ۴.

67 . د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، د عدلیې وزارت، اساسي قانون، (۴ جنوري ۲۰۲۴).

## ۲. د مذهب، فرهنګ او تاریخ د زده کړې حق

مخکني اساسي قانون په صراحت سره ویلي ؤ چې «دولت باید د ښوونځیو د دیني مضامینو نصاب په افغانستان کې د شته اسلامي مذاهبو پر بنسټ تدوین کړي.»[68] د ملي یا قومي، مذهبي او ژبنیو اقلیتونو د اړوندو افرادو د حقونو اعلامیه ۴ بند ۴ ماده هم، ټاکي: «دولتونه تر هغه ځایه چې مناسبه وي، باید د دوی په هیواد کې د اقلیتونو تاریخ، سنتونو، ژبې او فرهنګ د پوهاوي د تشویق لپاره تعلیم د ټولو په واک کې کړي.[69] سره له دې، طالبانو واک ته له راستنېدو وروسته شیعه فقه له خپل تعلیمي نظام څخه حذف کړې ده او اوس دیني تعلیم یواځې په حنفي فقهې پورې منحصر دی.[70] لکه څنګه چې طالبانو د جعفري فقهې تدریس په بامیان پوهنتون کې چې یواځنۍ د شیعه ؤ پوهنتون دی، منعه کړه. په دې اړه نداڅ‍ه ندیم، د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت سرپرست په یوه وینا کې په افغانستان کې د نورو مذاهبو وجود رد کړ او و یې ویل چې د دې هیواد ټول خلک د حنفي فقهې پیرو دي.[71]

هممهاله، ترلاسه شوي شواهد ښيي چې د غزني ولایت په شیعه مېشتو ولسوالیو کې، په ښوونځیو کې د جعفري فقهې تدریس منعه شوی او زده کوونکي مکلف دي چې حنفي فقهه زده کړي. په بامیان، دایکندي او غور ولایتونو کې هم لکه څنګه چې مخکې واضحه شوه، د جعفري فقهې اړوند ټول کتابونه له پوهنتونونو او ښوونځیو ټول شوي او تدریس یې منعه شوی دی. له غور ولایت څخه سرچینو ویلي چې د طالبانو د رهبر په امر، هیڅ تعلیمي مرکز حق نه لري د فقهې جعفري اړوند کتاب تدریس کړي. البته د شیعه ګانو مذهبي مدرسې په یادو ولایتونو کې فعالې دي او په دې ترتیب شیعه مذهبه ماشومان د علاقې په صورت کې کولای شي په دې مدرسو کې خپل مذهب زده کړي. همدا راز، په بدخشان ولایت کې طالبانو له حنفي مذهب پرته د دیني زده کړو مرکزونه منعه اعلان کړي دي.

د دې راپور موندنې ښيي چې طالبان حتا د حنفي فقهې په زده کړه کې د شیعه ماشومانو د تشویق لپاره او د خپل پام وړ فکر د ترویج لپاره، د حنفي فقهې او «امارت پېژندنې» په برخه کې د کتاب لوستلو مسابقې د بامیان ولایت په ښوونځیو او پوهنتونونو کې جوړوي.

همدا راز، د طالبانو د امربالمعروف اداري د بدخشان ولایت په اوو ولسوالیو کې د اسماعیلي مذهب د پیروانو لپاره دیني مدرسې فعالې کړې دي او حنفي فېقه په جبري ډول ور زده کوي. طالبانو اسماعیلیه کورنۍ اړیستلي دي چې خپل ماشومان دې مدرسو ته ولیږي.[72]

68 . هماغه سرچینه، ماده ۴۵

69 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د ملي یا قومي، دیني او ژبنیو اقلیتونو اړوندو افرادو اعلامیه، (۱۸ ډسامبر ۱۹۹۲)، https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/declaration-rights-persons-belonging-national-or-ethnic#:~:text=States%20shall%20protect%20the%20existence,measures%20to%20achieve%20those%20ends

70 . د عفوې بین المللي سازمان، «افغانستان ۲۰۲۳»، /https://www.amnesty.org/en/location/asia-and-the-pacific/south-asia/afghanistan/report-afghanistan

71 . Kabul Now، «د افغانستان د سني کولو لپاره هڅه، طالبانو د بامیان پوهنتون څخه د جعفري فقهې کتابونه حذف کړل» ، (۷ جون ۲۰۲۴)، https://kabulnow.text=Very%20early%20on%20after%20their%20resumption%20of,the%20one%20university%20in%20a%20Shia%2Dmajority%20:~:#/35960/06/com/2024province

72 . رواداري، «د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت»، (آګست ۲۰۲۴)، RW_MidYear2024_HRReport_Dari./08/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024

## ج- تعلیم، سواد او حرفې ته د معلولیت لرونکو نجونو د لاسرسي وضعیت

د بشر حقونو بین المللي اسنادو د تعلیم حق له هیڅ ډول استثنا پرته د ټولو افرادو لپاره تضمین کړی دی. د معلولیت لرونکو افرادو د حقونو بین المللي کنوانسیون ژمن دولتونه مکلف کړي دي چې د معلولیت لرونکو افرادو لپاره د تعلیم حق له تبعیض پرته او د برابر فرصت په توګه په رسمیت و پیژني او هم تضمین کړي چې یاد کسان اجباري، وړیا لومړنیو او منځنیو با کیفیته زده کړو ته لاسرسی ولري. همدا راز د دې کنوانسیون پر بسنټ ملاتړیز تدابیر فردي اړتیاوو ته په کتو لکه د بریل لیک زده کړه او نورې ځانګړې طریقې وړاندې کړي.[۷۳]

دا چې طالبانو د افغانستان ښځې او نجونې د هغوی د جنسیتي هویت له امله د تعلیم او تحصیل له حق څخه محرومې کړې دي، معلولیت لرونکې نجونې هم په ټول افغانستان کې د تعلیم حق ته لاسرسی نه لري. د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د معلولیت لرونکو ماشومانو د اختصاصي تعلیمي او حرفه يي مرکزونو فعالیت د هیواد په بېلابېلو برخو کې دروند دی او دا مهال په محدود شمېر تعلیمي مراکزو کې، نابینا نجونې او اورېدو معلولیت لرونکې نجونې په دې شرط چې عمر يې له ۱۴ کلونو زیات نه وي، کولای شي درس ووايي.

**مخکې په لوګر، غزني، کندوز، تخار او کابل ولایتوو کې زیات شمېر معلولیت لرونکي ماشومان چې د لیدلو او ورېدلو معلولیت لري او په ځانګړو تعلیمي مراکزو کې يې درس ویلو د دري کلونو په اوږدو کې په تدریج سره د طالبانو له خوا تړل شوي دي. سرچینو رواداري ته ویلي چې دا مهال د طالبانو د پوهنې او کار په وزارتونو کې د معلولیت لرونکو وګړو د تعلیمي او حرفه يي زده کړو د مرکزونو لپاره هیڅ بودجه په نظر کې نه ده نیول شوې.**

سره له دې په خوست ولایت کې د سواد او حرفې د زده کړې يو مرکز د لیدلو او ورېدلو معلولیت لرونکو ماشومانو لپاره فعال دی؛ خو نجونې ورته لاسرسی نه لري. همدا راز په غور ولایت کې د لیدلو او اورېدلو معلولیت لرونکې نجونې په دې شرط چې عمر يې له ۱۴ کلونو کم وي کولای شي د معلولیت لرونکو ماشومانو لپاره ځانګړو مرکزونو کې درس ووايي.

د تعلیم له حق څخه د ښځو او نجونو محرومیت د معلولیت لرونکو نجونو پر ژوند جدي پایلي درلودې او هغوی يې په جدي ستونزو کې اچولي دي. ځکه یواځنۍ امن ټولنیزه فضا چې دې نجونو سره مرسته کوي چې ځان او د ژوند مهارتونه ترلاسه کړي، ځانګړي ښوونځي دي. له بل پلوه، دا مهال د دې ماشومانو د ځواکمنولو لپاره هیڅ تدابیر نشته.

pdf

73 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، د معلولیت لرونکو وګړو د حقونو بین المللي کنوانسیون، (۱۲ ډسامبر ۲۰۰۶)، https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/convention-rights-persons-disabilities



انځور: AP Photo Felipe Dana

# په دیني مدرسو کې تاوتریخوالی، تنبه او جنسي زورونه

د دې راپور موندنې ښيي چې پر افغانستان د طالبانو له بیا واکمنېدو وروسته، په داسې حال کې چې د ماشومانو پر وړاندې د جرایمو د مخنیوي هیڅ قانون نشته، په ښوونځیو او دیني مدرسو کې د تاوتریخوالي بېلابېلې بڼې لکه بدني تنبه او جنسي ځورونو زیاتوالی موندلی.

## الف- تاوتریخوالی او فیزیکي تنبیه

دا چې طالبانو داسې کسان په ښوونځیو او تعلیمي مراکزو کې استخدام کړي چې ډېری له دیني مدرسو فارغان دي او د تعلیم او تربیې له مناسبو لارو چارو سره بلد نه دي؛ نو د تنبیه او پر ماشومانو د تاوتریخوالي مرتکب کیږي.[٧٤] د بشر حقونو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي راپور ورکوونکي هم په خپل وروستي راپور کې د «وړتیا نه درلودونکو» یا «کمې وړتیا درلودونکو» معلمینو د استخدام له امله په ښوونځیو کې د زده کوونکو د بدني تنبیه د زیاتېدو له امله اندېښنه ښودلې ده.[٧٥]

د رواداري موندنې ښيي چې وهل ټکول، د نجونو د نوکانو تراشل داسې چې د درد او زخم باعث کیږي، په لرګي، خط کش، لغتو، څپېړو او سوک وهل، د نجونو زده کوونکو د ټیکري قیچي کول، په دُرو وهل، د ګوتو تر منځ د قلم اېښودل، په یوه پښه درول، د ماشومانو په خوله کې د څپلکو ورکول، ساه بندول، یو ورځنۍ اجباري کار، له

74 . د افغانستان ماشومانو حقوق بشري وضعیت: د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه د ۲۰۲۳ کال تر اکتوبر پورې د مدني او سیاسي حقونو د نقض موارد)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/11/RW_ChildReport_Dari.pdf

75 . د بشر حقونو ځانګړی رپورټر، «په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت»، (۳۰ آګست ۲۰۲۴)، https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/a79330-report-special-rapporteur-situation-human-rights-afghanistan

ښوونځي ویستل او سپکاوی په ښوونځیو کې د زده کوونکو د تنبیه طریقې دي چې ډېری د نویو ګمارل شویو ښوونکو او د امربالمعروف اداري د مامورینو له خوا ترسره کیږي.

له بامیان ولایت څخه یوې نجلۍ زده کوونکې رواداري ته ویلي چې د پوښاک له امله څو ځل د امربالمعروف مامورینو له خوا تنبه، تحقیر او توهین شوې ده. په یو بل مورد کې په بادغیس ولایت کې د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر پر ۵مه یو شمېر نجونو او هلکانو د معلم د ورځې په مناسبت وړوکی جشن جوړول غوښتل چې د طالبانو د څارونکي پلاوي له خوا له تاوتریخوالي په ډکه توګه وځپل شول او په دې پروګرام کې دخیل زده کوونکې له ښوونځي وشړل شول. همدا راز، د دې راپور د موندنو پر بنسټ، په دې ولایت کې د امربالمعروف مامورین د نجونو زده کوونکو لوی نوکان دومره واړه کوي چې د درد او زخم باعث ګرځي او یا هغه نجونې چې رنګه ټیکرې په سر کوي هغه ورته قیچي کوي.

د ۲۰۲۳ کال په جولای میاشت کې، یو زده کوونکی د کندهار په یو ښوونځي کې د ښوونځي د مدیر له خوا دومره وهل شوی و چې د تداوي لپاره روغتون ته یوړل شو.[76] همدا راز، د بدخشان ولایت یو اوسیدونکي ویلي چې یو دیني زده کوونکي خپله لور پر سر په سوک وهلې چې پر لاره غوځېدلې او اوس یو روغتیایي مرکز کې تر تداوي لاندې ده.

## ب- تاوتریخوالی او جنسي ځورونه

**رواداري داسې راپورونه ترلاسه کړي چې ښيي ښځینه ښوونکې او ماشومې نجونې د طالبانو تر کنټرول لاندې ښوونځیو او دیني مدرسو کې له جنسي ځورونې سره مخ دي. د دې معلوماتو پر بنسټ په مدرسو کې د ماشومانو پر وړاندې یواځې کمه برخه د جنسي تیري جرمونه افشا کیږي. ځکه له یوې خوا قرباني ماشومان هغه څه چې وړاندې تېر شوي په اړه یې فضا او فرصت نه لري او له بلې خوا کورنۍ هم د طالبانو له وېرې او ټولنیز حیثیت او اعتبار ته یې د ضرر رسېدو له وېرې دا ډول قضیې پټې ساتي.[77]**

د دې راپور موندنې ښيي چې د غور ولایت په یوه دیني مدرسه کې، ۶ تنو نجونو زده کوونکو باندې جنسي تېرۍ وشو؛ خو د طالبانو له خوا د تهدید او فشار له امله قضیه رسنیزه نشوه. سره له دې، یو قرباني ځلور ورځې وروسته واده وکړ او د دریو نورو قربانیانو کورنیو غور ولایت پرېښود. په دې مدرسه کې د ۲۵۰ په شمېر نجونې درس وایي چې دا مهال یې د زده کوونکو شمېر له نیمې کم شوی دی. مرکه شویو همدا راز ویلي چې له دې پېښې وروسته ډېری کورنیو خپلې لوڼې مدرسو ته له استولو منعه کوي.

76 . د افغانستان د ماشومانو حقوق بشري وضعیت: د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه د ۲۰۲۳ کال تر اکتوبر پورې د بشر حقونو د نقض موارد، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/11/RW_ChildReport_Dari.pdf

77 هماغه سرچینه،

د ۲۰۲۳ کال د سپتامبر پر ۲مه نېټه د طالبانو د ځواکونو یو تن چې شاه ولي نومیږي له خپلو دوو همکارانو سره، په بامیان ولایت غندک سیمه کې پر یوې ښوونکې ښځې د جنسي تیري په اراده یو ښوونځي ته ننوتل؛ خو ښوونکې د هغوی له منګولو وتښتېده د سیمې د یو مشر کور ته یې پناه یوړه.[۷۸]

په دایکندي ولایت کې په یوه پېښه کې د قران یو قاري چې د طالبانو له خوا په یو ښوونځي کې استخدام شوی، پر یوې ښځې ښوونکې یې فشار راوستی و چې باید واده ورسره وکړي. پر همدې دلیل دا ښوونکې اړ شوه چې خپله دنده پرېږدي او یو بل ولایت ته کډه شي.

# د ښځو د تعلیم او تحصیل له حق څخه د محرومیت تېلنیزې، رواني او اقتصادي پایلې

طالبانو واک ته له راستنېدو وروسته، د فرمانونو، احکامو، اعلامیو او ډېر شمېر مقرراتو په صادرولو ښځې په دولتي او غیردولتي موسسو، سفارت خونو، رسنیو او ورزشي، هنري او فرهنګي برخو کې له کار څخه منعه کړې دي. دا مهال یواځې ښځینه ښوونکې په لومړنیو ښوونځیو کې او د صحي برخو کارکوونکي ډېری د ولایتونو په مراکزو کې د حجاب او شرعي محارمو درلودلو په شرط خپل کار ته دوام ورکوي.[۷۹] سره له دې، د تعلیم او کار له حق څخه د ښځو محرومیت، پر کورنیو او ټولنې زیانمنوونکې ټولنیزې، رواني او اقتصادي پایلې تحمیل کړې دي. لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو سازمان د ماشومانو صندوق (UNICEF) تخمین کړی چې د تعلیم له حق څخه د نجونو محرومیت د طالبانو د حاکمیت یواځې په لومړیو ۱۲ میاشتو کې د افغانستان اقتصاد ته ۵۰۰ میلیونه ډالره زیان اړولی دی.[۸۰]

له بل پلوه، ښځو سره د تاوتریخوالي د بېلابېلو بڼو زیاتېدل، د تعلیم له حق څخه د ښځو د محرومیت بله پایله ده چې د دې هیواد د ښځو او نجونو لپاره یې د ژوند شرایط لا سخت کړي دي.

## الف- د رواني ستونزو زیاتېدل او د ښځو او نجونو تر منځ د ځانوژنې هڅې

له قربانیانو سره له خبرو، د روغتونوو د رواني صحت له برخو او په افغانستان کې د رواني مشاورې له بنسټونو څخه ترلاسه شوي معلومات ښیي چې د ښځو او نجونو پر ژوند د محدودیتونو سختولو لکه د تعلیم او کار

78 . د وربښمو لار، «په بامیان ولایت کې پر یوې ښوونکې ښځې د طالبانو له خوا د تیري هڅه؛ پېښه ملکي وګړي ټپیان شول»، (۲۰۲۳ سپتامبر ۳)، https://jade-abresham.com/reports/11441/
79 .رواداري، «د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت»، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/08/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf
80 . د ملګرو مستونو سازمان د ماشومانو صندوق، « د تعلیم له حق څخه د نجونو محرومیت د طالبانو د حاکمیت یواځې په لومړیو ۱۲ میاشتو کې د افغانستان اقتصاد ته ۵۰۰ میلیونه ډالره زیان اړولی دی»، (۱۵ آګست ۲۰۲۲)، https://www.unicef.org/afghanistan/press-releases/depriving-girls-secondary-education-translates-loss-least-us500-million-afghan#:~:text=KABUL%2C%2015%20August%202022%20%E2%80%93%20Keeping%20girls%20out,GDP%2C%20according%20to%20a%20new%20analysis%20by%20UNICEF

له حق څخه محرومولو ویجاړوونکي او ناوړه پایلې درلودلې دي. نهیلي، وېره او اضطراب، انزوا، خفګان، د ځانوژنې فکرونه، عصباني کېدل او په خوب کې چیغې وهل هغه ناروغۍ دي چې د مرکه شویو په وینا د ښځو او نجونو په منځ کې زیاتې شوې دي. د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي ګزارشګر هم د ځوانو نجونو په منځ کې په ځانګړي ډول د هیواد په سویل کې د ځانوژنې د کچې زیاتېدو اړوند اندېښنه څرګنده کړې او ویلي یې دي چې د ځانوژنې د پېښو د ټولو پېښو ۵۰ فیصده د ځوانو نجونو په منځ کې پېښې شوې دي.[۸۱]

د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۱۱مه یوې نجلۍ چې د ښوونځي زده کوونکې وه د ټوپک په ډز یې ځانوژنه وکړه. سرچینو ویلي چې د دې پېښې لامل رواني ستونزې او کورنۍ تاوتریخوالی و. په یو بل مورد کې په دایکندي ولایت کې، یوه ښځه ښوونکې له هغې وروسته چې د ځانوژنې اقدام یې کړی د طالبانو د معارف ریاست له خوا د بې حجابۍ په تور له دندې ګوښه شوې وه. د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۵مه یوې نجلۍ د بدخشان ولایت په خاش ولسوالۍ کې د طالبانو له غړي سره واده ته د مجبورولو له امله ځانوژنه وکړه. همدا راز، یوه بله نجلۍ په دې ولایت کې د ۲۰۲۴ کال د سپتامبر پر ۲۵مه د زهري موادو په خوړو د ځانوژنې اقدام وکړ او خپل ژوند یې پای ته ورساوه. د دې دلیل هم د طالبانو له غړي سره واده ته مجبورول ؤ. یاد موارد د تعلیم له حق څخه د نجونو د محرومیت، اقتصادي ستونزو او د کورنۍ تاوتریخوالي د زیاتېد وله امله پېښ شوي دي.

له کندهار ولایت څخه یو متخصص رواداري ته ویلي چې هره ورځ په منځنۍ کچه لس تنه رواني ناروغان ورته مراجعه کوي چې له دې څخه کم تر کمه درې تنه یې ښځې او نجونې دي، چې د تعلیم یا کار له حق څخه محرومې شوې دي.

**له دې ولایت څخه یو بل مرکه شوي ویلي چې: «لور مې د یوولسم ټولګي زده کوونکې وه چې طالبانو د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې وتړلې. لور مې تصمیم درلود چې طب ولولي خو اوس له رواني ستونزو سره مخامخ ده. د شپې نارامه خوبونه ویني او چیغې وهي. لور مې اوس د درملنې لاندې ده او د کورنۍ ټول غړي ورسره په تکلیف دي.»**

د دې راپور موندنې ښيي چې د وېرې، اضطراب او له راتلونکي څخه د نهیلۍ کچه له شپږم ټولګي څخه د ټیټو نجونو په منځ کې هم زیاته شوې ده. د شپږم ټولګي یو زده کوونکی له بامیان ولایت څخه ویلي چې «حتا د دې په اړه فکر کول چې راتلونکی کال نشم کولای درس ولولم راته ځورونکې ده.»

81 . د بشر حقونو ځانګړی ګزارشګر، «په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت»، (۲۹ فیبروري ۲۰۲۴)، https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ahrc5580-situation-human-rights-afghanistan-report-special-rapporteur

## ب- اجباري او ژر ودونه

د دې راپور موندنې ښيي چې په تېرو درې کلونو کې او د تعلیم او کار له حق څخه د نجونو د محرومیت له امله، د هیواد په بېلابېلو برخو کې اجباري او ژر ودونه زیات شوي دي.

د سویل لویدیځې حوزې د یو خصوصي پوهنتون د طب د ځانګې یوې محصلې رواداري ته ویلي چې د طالبانو له خوا د تحصیل له منعه کولو وروسته واده ته مجبوره شوې. هغه وايي چې وروسته له دې چې نجونې په پوهنتونونو کې له تحصیل څخه منعه شوې، د کورنۍ تر فشار لاندې وه چې واده وکړې.

**همدا راز، د میدان وردګ ولایت یوې محصلې ویلي چې په ۱۵ کلنۍ کې له یو ۴۰ کلن سړي سره واده ته اړیستل شوې. هغه وايي چې تصمیم یې درلود معلمه شي خو وروسته له هغې چې د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې د ښځو پر مخ وتړل شوې، ټولې هیلې او امیدونه یې له لاسه ورکړل او اوس د خپل ماشوم ساتنه کوي.**

له کابل ښار څخه یو بل مرکه کوونکي ویلي چې: «د ښوونځي په اتم ټولګي کې وم چې طالبانو نجونې له ښوونځي څخه منعه کړې. څه وخت وروسته مې کورنۍ راباندې فشار راوړ چې باید د چا په نوم شم، زه راضي نه وم خو کورنۍ مې وویل درس او تحصیل نشته، کار او بله بوختیا هم نشته باید د چا په نوم شې او واده وکړې. ما سره له دې چې ډېره هڅه مې وکړه کورنۍ مې راضي نشوه. هیڅ مې نشول کولای ځکه چې زمونږ اقتصادي وضعیت هم ښه نه و.» د یو بل قرباني یو خپلوان له بدخشان ولایت څخه ویلي: «ګل پېکۍ (مستعار نوم) د ښوونځي په اووم ټولګي کې وه چې طالبان راغلل او د درس او تحصیل د دوام له نعمت څخه بې برخې شوه، دا چې د پلار اقتصادي وضعیت یې ښه نه و او مور یې ناروغه وه او بل نفقه برابروونکی یې هم نه درلود، مجبوراً د یو ۳۵ کلن طالب په نکاح کې ورکړل شوه. خاوند یې یوه بله ښځه هم لري.»

له غزني ولایت له مرکز څخه د لسم ټولګي یوې زده کوونکې تېر (۲۰۲۳) کال ژر او اجباري واده ته غاړه کېښوده. هغه د یو رېړي والا لور وه او اراده یې درلوده چې طب ولولي؛ خو د تعلیم او تحصیل له حق څخه محرومیت ورته رواني ستونزې پیدا کړې دي. د پلار د اصرار او د خفګان له ستونزو د خلاصون لپاره یې واده ته غاړه کېښوده.

**له هرات ولایت څخه یوې ۱۴ کلنې نجلۍ رواداري ته ویلي: «کله چې طالبان راغلل د ښوونځي په ۴ ټولګي کې وم، پلار مې د کورنۍ ټول غړي په قاچاقي لارو له هیواده بهر ولېږل او د ۲۰۲۳ کال په ډسامبر کې هرات ته ستانه شوو. یوه میاشت وروسته مې پلار مجبوره کړم چې له یو ۴۰ کلن سړي سره واده وکړم، ځکه زمونږ اقتصادي وضعیت ښه نه و. خاوند مې قاچاق بر او پیسه دار و، اوس د مخدره موادو د قاچاق له امله بندي دی.»**

له غور ولایت څخه یوې بلې نجلۍ رواداري ته ویلي: «اووه میاشتې مخکې مې پلار او مور را څخه وغوښتل چې باید واده وکړم، پلار مې ویل که واده ونکړې طالبان دې مجبوروي چې واده ورسره وکړې. زه مجبوره شوم د پلار او مور غوښتنه ومنم.» هغه وایي: «له طالبانو مخکې ښوونځي ته تلم او د ټولګي اول نمره وم، مور مې تل راته دعا کوله چې په راتلونکې کې ډاکټره شم. خپله مې هم همدا هیله درلوده خو کله چې طالبان راغلل او ښوونځي یې وتړل ټولې هیلې مې له منځه لاړې. مخکې مې شپه او ورځ درس ویلو او د خپلو هیلو لپاره مې هڅه کوله خو اوس شپه او ورځ په نارامۍ، غم او درد کې تیریږي.»

# د ښځو د بدیلو زده کړو د حللارو ارزونه


واقعیت دا دی چې د تعلیم او تحصیل حق ته د نجونو د لاسرسي لپاره یواځنۍ اغېزناک انتخاب، د هغوی لپاره د دې حق تضمین او د بشر حقونو او د رواداری، تساهل او تسامح په څېر ارزښتونو پر بنسټ ښوونیز نصاب سره د ښوونځیو او پوهنتونونو بېرته پرانستل دي. بل هیڅ حللاره نشي کولای د رسمي تعلیم مناسب ځایناستی شي؛ ځکه له یوې خوا ورته د اړتیا وړ امکانات نشته او له بل پلوه لکه څنګه چې د دې راپور موندنو ښودلې ده، چې طالبان او په ځانګړې ډول د استخباراتو او امربالمعروف اداري هڅه کوي چې د افغانستان د ښځو او نجونو د تحصیل او تعلیم لپاره هیڅ فرصت او زمینه پرې نږدي. سره له دې، په راتلونکې کې د لاندې انتخابونو پر موثریت، لاسرسي او هم پر شته اندېښنو او ننګونو بحث کیږي.

## الف- پټ او پرلیکه (آنلاین) ښوونه

پرلیکه او غیر حضوري ښوونه کېدای شي یو ګټور انتخاب وي او د هغو نجونو لپاره چې د تعلیم له حق څخه محرومې شوې دي موقت بدیل اوسي. په دې شرط چې ملي او بین المللي غیر انتفاعي سازمانونه د دې کار لپاره لازمې سرچینې او امکانات برابر کړي. خو دا انتخاب په اوږد مهال کې د ډېرو ستونزو له امله، نشي کېدای تلپاتې حللاره اوسي، لکه د طالبانو محدودیتونه، برېښنا ته محدود لاسرسی، انټرنیټ او اقتصادي ستونزې. [۸۲] لکه څنګه چې مرکه شویو هم رواداري ته ویلي چې په لرو پرتو ولسوالیو او سیمو کې هغه نجونې چې د تعلیم له حق څخه محرومې شوې دي نشي کولای دې پروګرامونو ته لاسرسی ولري. په دې برخه کې یو مرکه شوې له هلمند ولایت څخه ویلي چې نجونې یواځې په دوو ښارونو لښکرګاه او ګرشک کې کولای شي انلاین تعلیمي پروګرامونو ته لاسرسی ولري. په نورو ولسوالیو کې او په ځانګړې ډول په لرو پرتو سیمو کې نه د دې ډول پروګرامونو اړوند چندان معلومات لري او نه امکانات شته.

له بل پلوه، د یو شمېر نجونو زده کوونکو لپاره د انلاین زده کړو غیر رسمي والی او د اسنادو نه رسمي والی او د

82 . AACE، «پرلیکه زده کړې د افغان ښځو او نجونو لپاره د تعلیمي فرصتونو د نجات د لارې په توګه: له سیما احمدي سره مرکه»، (۴ اکتوبر ۲۰۲۳)، https://aace.org/review/online-education-as-a-lifeline-of-learning-opportunities-for-afghan-women-an-interview-with-sima-ahmadi/



انځور: سهراب عمر

تحصیل د دوام حق نه درلودل تر ټولو مهمه اندېښنه ده.[٨٣] البته ټولې ستونزې دا نه دي، لکه څنګه چې شته شواهد ښيي چې د طالبانو د استخباراتو او امربالمعروف اداري د ۲۰۲۴ کال په لومړيو شپږو میاشتو کې د پټو او انلاین کورسونو په ګډون کم تر کمه ۱۳ ښوونيز مرکزونه چې له شپږم ټولګي پورته نجونو ته یې تعلیمي خدمات وړاندې کول تړلي او کم تر کمه د دې مرکزونو ۲۸ تنه مدیران او زده کوونکې یې نیولي او بندیان کړي دي.[٨٤] یواځې په بادغیس ولایت کې د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې کم تر کمه درې تعلیمي مرکزونه چې په پټه یې نجونو ته زده کړې ورکولې د طالبانو له خوا وتړل شول او جریمه کړای شول.

**په خوست ولایت کې یوې ښځې ښوونکې ویلي چې هغې په پټه هغو نجونو ته چې له ښوونځي محرومې شوې دي، زده کړه ورکوله چې د طالبانو له خوا په نښه او ونیول شوه. طالبانو له دې ښوونکې څخه ژمنه اخستې چې نور داسې پروګرامونه جوړ نه کړي. یوې ښځې ښوونکې په خپل کور کې یو شمېر نجونو ته تدریس کاوه چې له څلور میاشتو وروسته طالبان ترې خبر شول او خاوند ته یې خبرداری ورکړ چې که دا نجونې بیا د دوی کور ته ورغلې دواړه ښځه او مېړه به ونیسي او بندیان به یې کړي. په همدې حال کې، یوه نجلۍ چې څو کاله مخکې له پوهنتونه فارغ شوې، د شپږو میاشتو لپاره یې د سیمې یو شمېر نجونو ته درسي مضامین تدریسول چې د سیمې د ملا امام له خوا په نښه او طالبانو ته یې راپور ورکړ. طالبانو د دې ښوونکې ورور ونیو او له هغه یې ژمنه واخیسته چې کورس به بندوي.**

په یو بل ولایت کې یو تعلیمي کورس چې په پټه یې نجونو ته د آلماني ژبې زده کړه ورکوله د طالبانو د استخباراتو له خوا په نښه او مسئول یې ونیول شو. طالبانو د کورس دروازه د یوې اونۍ لپاره مهر لاک کړه او وروسته یې د ضمانت او د نجونو د صنف په بندلو، د کورس مسئول له زندانه خوشې کړ. سربېره پر دې، د هیواد له سویل لویدیځ څخه یو مرکه شوي رواداري ته ویلي چې خاله یې په پټه د ښوونځي د مضامینو د تدریس یو ټولګي په پټه د نجونو لپاره رامنځته کړی و چې د امربالمعروف له خوا په نښه او درسي ټولګی یې وتړل شو. هغه وایي چې د امربالمعروف مامورین یې هر دوه ورځې کور ته ورتلل او د دې ټولګي په اړه یې ترې پلټنې کولې.

په تېرو درې کلونو کې نجونې زده کوونکو او محصلینو هر ابزار او وسیله وکاروله چې تعلیم ته د لاسرسي لپاره یوه لاره ومومي. پټ کورسونه یې جوړ کړل، په آنلاین تعلیمي پروګرامونو کې ګډون وکړ، د کتاب د مطالعې ډلې یې جوړې کړې او په نوبت یې د یو بل کتابونه لوستل. خو ټول له څه مودې وروسته د طالبانو له خوا په نښه او بند شول.

83 . اطلاعات روز، «له ښوونځیو د نجونو محرومیت، آیا آنلاین زده کړه د حضوري زده کړې بدیل کېدای شي؟»، (۱۵ اپریل ۲۰۲۲)، https://www.etilaatroz.com/140543/deprivation-of-girls-from-schools-can-online-training-be-an-alternative-to-face-to-face-training/

84 . رواداري، «د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو د وضعیت رپوټ»، (آګست ۲۰۲۴)، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2024/08/RW_MidYear2024_HRReport_Dari.pdf

## ب- بورسونه او د تحصیلي لګښتونو مرسته

پوهنتونونو او ښوونځیو ته د نجونو د تګ له منعه کولو وروسته، کورنیو د خپلو لوڼو د تعلیم د حق د تامین لپاره ټولې لارې او ممکن انتخابونه وکارول. لکه څنګه چې ډېر شمېر کورنیو په تېرو درې کلونو کې د دې لپاره چې لوڼې یې وکولای شي ښوونځي او پوهنتون ته ولاړې شي، هیواد یې پرېښود او د مهاجرت د سختو شرایطو په ګاللو سره ایران، پاکستان او نورو لرې او نږدې هیوادونو ته کډوال شول.

هممهاله، د افغانستان د نجونو د مرستې لپاره بین المللي هڅې هم د وړیا تحصیلي بورسونو له لارې دوام لري. په تېرو درې کلونو کې له ټولې دنیا څخه بېلابېلو پوهنتونونو د افغانستان د نجونو لپاره بورسونه او د تحصیلي لګښتونو مرسته اعلان کړه.[۸۵]

تحصیلي بورسونه کیدای شي تعلیم او تحصیل ته د هیواد د نجونو د لاسرسي د تامین لپاره تر ټولو ګټوره حللاره وي؛ خو تلپاتې حللاره نه ده. څکه په ځانګړې ډول په لرو پرتو سیمو کې نه د دې ډول تحصیلي فرصتونو په برخه کې لازمه پوهه شته او له بل پلوه د طالبانو له خوا پلې شوې محدودیتونه لکه له هیواده بهر د سفر لپاره ښځو سره د شرعي محارمو ملتیا دې ډول تعلیمي فرصتونو ته په شرایطو د برابرو نجونو د لاسرسي خنډ ګرځي.

له غزنې ولایت څخه یوې محصلې رواداري ته ویلي چې هغې په یو تحصیلي بورس کې د نوملیکنې لپاره پوهنتون ته مراجعه وکړه چې خپلې نمرې ترلاسه کړي خو کله چې د پوهنتون مسئولینو دلیل وپوښت، همکاري یې و نکړه او له همدې امله له یو تعلیمي فرصت څخه محرومه شوې ده.

داسې موارد هم شته چې طالبان قصدا له هیواده بهر د تحصیلاتو د پیل کولو لپاره د نجونو د سفر مخه نیولې ده. حتا هغه نجونې چې شرعي محارم یې درلودل د طالبانو له ممانعت سره مخامخ شوې دي.[۸٦]

## ج- دیني مدرسې

په تېرو درې کلونو کې چې د افغانستان ښځې او نجونې ښوونځي او پوهنتون ته له تلو منعه شوې دي، دیني مدرسې تعلیم او تحصیل ته د نجونو د لاسرسي د بدیل انتخاب په توګه مطرح کیږي. البته د دې حللارې ملاتړ او هرکلی طالبانو هم کړی دی. په همدې دلیل د دې ډلې د امربالمعروف، لوړو زده کړو او پوهنې وزارت اداري کورنۍ تشویقوي چې خپل بچي دې مدرسو ته ولیږي.

85 . یورو نیوز، «آنلاین زده کړې او تحصیلي بورسونه، د افغان زده کوونکو او محصلینو د مرستې لپاره نړیوال نوښتونه»، (۳۰ ډسامبر ۲۰۲۲)، https://parsi.euronews.com/2022/12/30/online-training-and-scholarships-global-initiatives-to-help-afghan-girls-and-students

86 . بي بي سي فارسي، «طالبان دبۍ ته د ۷۹ نجونو د تلو مخنیوی وکړ؛ په منځنۍ آسیا کې محصلین: کابل ته ستنېدو اندېښمن یوو»، (۲۳ آګست ۲۰۲۳)، https://www.bbc.com/persian/articles/cnkgz924ldno

په لنډه موده کې ممکن د ديني مدرسو پرانستل د زندان ته ورته وضعيت څخه د تېښتې لپاره د یوې لارې په توګه تعبیر شي چې د افغانستان ډېرى ښځې او نجونې يې زغمي. خو په اوږد مهال کې د کورنيو په چاپېريال کې کولای شي د افراط ګرايۍ د خطر په پراخېدو تمام شي.[87] د بشر حقونو د چارو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي راپور ورکوونکي په خپل وروستي راپور کې په ديني مدرسو کې د تعليم د منځپانګې په اړه اندېښنه ښودلې او ويلي يې دي چې داسې راپورونه شته چې ښيي ديني مدرسې، د طالبانو د ايډيالوژۍ د ترويج په بنسټونو بدل شوې، لکه بنسټيز شوى تبعيض او د ښځو ځپل.[88] په وروستيو کې د طالبانو د معارف وزارت ويلي چې په دې هيواد کې د ديني مدرسو شمېر دا مهال له ۲۱ زرو زيات شوى چې طالبان به يې د پر مخ وړلو لپاره ۱۰۰ زره تنه استخدام کړي. له درې ميليونه او ۶۸۷ زره ماشومان او ځوانان په دې مدرسو او د اسلامي تعليماتو په مرکزونو کې ديني زده کړې کوي. د طالبانو د معارف وزارت همدا راز ويلي چې د دولتي او خصوصي ښوونځيو شمېر له ۱۸ زرو څخه زيات دى.[89] په داسې حال کې چې د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه وړاندې د ثبت شويو ديني مدرسو شمېر د افغانستان په جمهوري اسلامي دولت کې ۵۰۰۰ مدرسو ته رسېده.[90]

له هلمند ولايت څخه يو مرکه شوي ويلي چې په دې ولايت کې د ديني مدرسو شمېر د پام وړ زيات شوى او طالبان حتا د خصوصي ديني مدرسو لپاره ځانګړې بودجه ورکوي. هغه زياته کړې چې دا مهال ديني مدرسې په يو تجارت بدلې شوې دي، ځکه چې مدرسين يې هم له دولته معاش اخلي او هم يو شمېر مخارج له کورنيو او نورو بنسټونو له خوا تامينوي. په کندوز ولايت کې هم ديني مدرسې د پام وړ زياتې شوې دي او سيمه ييز مسئولينو او د طالبانو قومندانانو هر يو ځان ته نوې مدرسې جوړې کړې دي. له دې ولايت څخه معلومات ښيي چې د طالبانو تر کنټرول لاندې په يو شمېر ديني مدرسو کې په پرله پسې توګه د عصري علومو او د ښوونځيو د درسي مضامينو په اړه منفي تبليغات کېږي او هغه «دنيوي» او غير ضروري ګڼي. طالبان په دې مدرسو کې «د ښځو لپاه د عصري علومو زده کړه بې ګټې ګڼي او په باور يې د مذهبي زده کړو ترلاسه کول د دواړو جهانونو د سعادت لامل کېږي»، تاکيد کوي.

د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ، طالبانو په کابل، ميدان وردګ او کنړ ولايتونو کې پر يو شمېر مدرسو فشار راوړى چې خپل نصاب د طالبانو له خوښې سره سم بدل کړي. دا مدرسې د مخکني حکومت په جواز فعاليت کوي او استادان يې ډېرى له الازهر، مصر او يا سعودي عربستان څخه فارغ شوي دي. مرکه شويو ويلي چې طالبان هڅه کوي چې د اهل سنت د ديني مدرسو ټول نصاب د حنفي فقهې او يا «ديوبندي» تفسير سره سم له اسلام څخه د خپلو سختو برداشتونو سره سم بدل کړي. له بل پلوه، د طالبانو رهبر د استخباراتو اداري ته امر کړى چې د سلفيانو (اهل حديث) د اړوندو مدرسو ارزونه وکړي او فعاليت يې وتړي.

87 . د آسټراليا د بين المللي چارو انسټيټيوټ، «د طالبارنو مدرسې: د جوړېدو په حال کې يو ساعتي بم (۱۶ مى ۲۰۲۴)، https://www.internationalaffairs.org.au/australianoutlook/taliban-/madrasas-a-time-bomb-in-the-making

88 . د بشر حقوونو ځانګړى ګزارشګر، «په افغانستان کې د بشر حقوونو وضعيت»، (۳۰ آګست ۲۰۲۴)، https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/a79330-report-special-rapporteur-situation-human-rights-afghanistan

89 . امريکا غږ، «طالبان: له ۲۱۰۰۰ زياتې ديني مدرسې او له ۱۸۰۰ ډېر مکتبونه په افغانستان کې فعال دي»، (۱۲ سپټامبر ۲۰۲۴)، https://www.darivoa.com/a/for-the-first-time-the-number-of-religious-seminaries-increased-compared-to-schools-in-afghanistan/7781235.html

90 . طلوع نيوز، «دولت ادارا لري مدرسې په خپل کنټرول کې راولي»، (۸ جنوري ۲۰۲۱)، https://tolonews.com/afghanistan-169095

**په ډېرو ولایتونو کې نجونو ته په دیني مدرسو کې نارینه او په یو شمېر ولایتونو کې ښځې تدریس کوي. په هغو ولایتونو کې چې په مدرسو کې د نجونو تحصیلي کچه لوړه شوې او یا د ښځو مدرسینو کمښت شته، نارینه مدرسین د یوې غرفې له منځه او له لاوډسپیکر څخه په استفادې په داسې حال کې چې نجونې نه ویني هغوی ته درس ورکوي. همدا راز، په کندهار ولایت کې په دې صورت کې چې نارینه مدرسین ښځو ته تدریس کوي، باید یوه حایله پرده یې په منځ کې موجوده وي چې مدرسین نجونې او نجونې مدرسین و نه ویني. نجونې نه شي کولای پوښتنه وکړي چې د طالبانو د امربالمعروف د نوي قانون پر بنسټ، د ښځې غږ اوریدل «عورت» دی.**

هممهاله، د رواداري موندنې ښیي چې طالبان په یو شمېر دیني مدرسو کې ماشومانو ته نظامي زده کړې هم ورکوي. د بېلګې په توګه په کندوز ولایت کې هغوی د «عمریه جهادي مدرسه» په نوم یوه لویه مدرسه جوړه کړې چې ډېری مدرسین یې د پاکستان د دیني مدرسو په ځانګړې ډول د حقانیې مدرسې فارغان دي. په دې مدرسه کې زده کوونکو ته په بېلابېلو دورو شپږ میاشتې، یو کال او دوه کاله کې زده کړه ورکوي او وروسته یې د طالبانو په ملکي او نظامي برخو کې استخداموي. همدا راز، په هرات ولایت کې په یوه مدرسه کې چې مخکې پکې د ښوونکو د روزنې ریاست پکې و، طالبان زده کوونکو ته نظامي زده کړې هم ورکوي.

په یوه بله لویه مدرسه کې چې د هلمند ولایت د کجکي ولسوالۍ په زمین داور سیمه کې رامنځته شوې هم ماشومانو ته نظامي زده کړې ورکول کیږي. د رواداري موندنې ښیي چې طالبان ماشومانو ته د نظامي استفادې لپاره په دې مدرسه کې زده کړه ورکوي.[91] په غزنې ولایت کې هم په څو دیني مدرسو کې ماشومانو ته نظامي زده کړې ورکول کیږي او په وروستیو کې د یوې لویې دینې مجتمع د جوړولو کار د دې ولایت په ناوې ولسوالۍ کې پیل شوی چې د ترلاسه شویو معلوماتو سره سم یو پروګرام یې ماشومانو ته نظامي او جنګي فنون ور زده کول دي.

په سویل لویدیزو ولایتونو کې هم، یو شمېر د مساجدو امامان او د طالبانو سیمه ییز مسئولین په ښکاره توګه د ماشومانو د تشویق لپاره د جګړې له تاوتریخوالي ډکې طریقې ور زده کوي او د طالبانو له لیکو سره د یوځای کېدو تبلیغات کوي. دوه ۱۵ کاله او ۱۴ کاله عمر درلودونکو ماشومانو له هلمند ولایت څخه رواداري ته ویلي چې غواړي مدرسې ته لاړ شي او جنګي فنون زده کړي چې د طالبانو د ځواکونو په کرښو کې فعالیت وکړي.[92]

91 . رواداري، «په افغانستان کې د ماشوماو د بشري حقونو وضعیت: د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه د ۲۰۲۳ کال تر اکتوبر پورې د مدني او سیاسي حقونو د نقض موارد»، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/11/RW_ChildReport_Dari.pdf
92 . هماغه سرچینه.

# د تعلیم او تحصیل له حق څخه د ښځو محرومیت د بشریت ضد جنایت په توګه

طالبانو قدرت ته له راستنېدو څخه له ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي برخو څخه د ښځو د حذفولو لپاره سازمان شوي او هدفي اقدامات ترسره کړي او د بشر حقونو د بین المللي موازینو د درناوي لپاره خپلو قانوني مکلفیتونو ته له پاملرنې پرته یې د دې هیواد ښځې او نجونې له خپلو تر ټولو بنسټیزو حقونو او بشري آزادیو څخه محرومې کړې دي، لکه د کار حق، د تعلیم حق، په عمومي چارو کې ګډون او د آزاد تګ راتګ حق.[93] دا تبعیضي اقدامات د طالبانو د رسمي پالیسۍ په توګه تعقیبیږي او سازمان ورکول یې د رهبرۍ په لوړو کچو کې ترسره کیږي چې د دې ډلې چارواکي یې نه پټوي.[94] سره له دې، د تعلیم له حق څخه د ښځو عمدي او سیستماتیک محرومیت څنګه چې په دې راپور کې وضاحت شوی، د طالبانو د رسمي سیاست او سازمان شویو اقداماتو برخه ده چې په تېرو درې کلونو کې اجراء شوي او د هغه څه پر بنسټ چې د بین‌المللي جزايي محکمې په اساسنامه کې راغلي دي کیدای شي جنسیتي تعذیب (Gender Persecution) او د بشریت ضد جنایت مصداق شي.[95] د جنسیتي تعذیب جرم هغه مهال تحقق مومي چې مرتکب د بین المللي قوانینو برعکس یوه ټولنیزه ډله د هغوی د جنسیتي هویت له امله په سخته له خپلو سیاسي حقونو محروم کړي او دا اقدام له مخکني نیت سره او د یو پراخ او سیستماتیک برید د یوې برخې په توګه د هر عمل اړوند چې د یادې اساسنامې ۷ مادې ۳ بند کې تصریح شوي، ترسره شي.[96] البته سیستماتیک برید لزوماً د نظامي اقداماتو معنا نه لري بلکه د هدفي او سازمان شویو چلندونو او اقداماتو ټولګه هم رانغاړي چې یو غیر نظامي نفوس په نښه کړي.[97]

د نورنبرګ د نظامي محکمې د رایې پر بنسټ، د تعلیم او تدریس له حق څخه محرومیت کولای شي د جنسیتي تعذیب له عناصرو څخه وي. د پخوانۍ یوګسلاوي محکمې هم د نونبرګ د نظامي محکمې د رایې په استناد اعلان وکړ چې جنسیتي تعذیب نه یواځې فیزیکي اعمال رانغاړي بلکې نور تبعیضي اعمال هم رانغاړي لکه له تحصیلي او کاري فرصتونو څخه د افرادو محروم‌ول.[98] سره له دې، له تعلیم او تحصیل څخه د ښځو قصدي محروم‌ول د بشریت ضد جنایت په حیث د بین المللي قضايي محکمې د محکمې لاندې د یو جرم په توګه کیدای شي رسیدګي ورته وشي؛ ځکه د افغانستان دولت په ۲۰۰۳ کال کې د دې محکمې اساسنامې سره یوځای شوی.[99]

93 . رواداري، «د ۲۰۲۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت»، RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf/08/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023

94 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو شورا، په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت په اړه د ځانګړي ګزارشګر رپوټ، «د تبعیض، بېلولو، انساني کرامت ته د بې احترامۍ او د ښځو او نجونو شړلو د بنسټي شوي نظام پدیده» (۱۳ می ۲۰۲۴)، pdf/g2407500.pdf/00/075/https://documents.un.org/doc/undoc/gen/g24

95 . د جزايي بین المللي محکمې اساسنامه ۲ بند (ز)، جنسیتي تعذیب د ډله ییز یا جمعي هویت له امله د بین المللي حقونو د موازینو خلاق له خپلو اساسي حقونو څخه د یوې ډلې یا جمعیت عمدي او سخت محرومیت عبارت دی له جنسیتي تبعیض څخه. لینک: Rome-Statute-eng.pdf/05-https://www.icc-cpi.int/sites/default/files/2024

96 هماغه سرچینه.

97 . .... یو برید هغه وخت سیستماتیک دی چې په کافي اندازه سازمان شوی وي او تصادفي نه وي، لکه د ورته «بشریت ضد جنایت» بېلګه وګورئ: https://cja.org/human-rights-issues/crimes-against-humanity/

98 . MADRE، «سلسله تعذیب جنسیتی جنایت علیه بشریت- شماره یک: تعذیب جنسیتی در افغانستان: جنایت علیه بشریت»، (مارچ ۲۰۲۳)، نگاه کنید به: Afghanistan-Report-2023.pdf/04/https://www.madre.org/wp-content/uploads/2023

99 . بین المللي جزایي محکمه، «افغانستان»، (۷ نوامبر ۲۰۰۴)، لینک: https://asp.icc-cpi.int/states-parties/asian-states/afghanistan



انځور: الهه ساحل

# پایله

طالبانو د تعلیم له حق څخه د ښځو په قصدي، سیستماتیک او هدفي محرومیت سره په ښکاره ډول له ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون مقررات نقض کړي دي او د جزايي محکمې د اساسنامې له مخې د جنسیتي تبعیض او د بشریت ضد جنایت مرتکب شوي دي.

همدا راز، طالبانو په تېرو درې کلونو کې د ښوونې او روزنې د نظام ایډیولوژیک کولو لپاره پراخ اقدامات ترسره کړي او هڅه یې کړې چې د هیواد ښوونځي او پوهنتونونه له خپلې خوښې سره سم رهبري کړي، نه د علمي، اقتصادي او فرهنګي پرمختګ او پراختیا پر لور. د همدې له مخې، د تعلیمي او تحصیلي موسسو په نصاب کې پلې شوي بدلونونه او په ځانګړي ډول له خپل بنسټګرانه او افراطي روایت سره سم په زور سره زده کوونکو، محصلینو او استادانو ته مذهبي مسایل ور زده کول اندېښمنوونکې ده او کولای شي د افغانستان پر ټولنې او په ځانګړي ډول د دې هیواد د ماشومانو پر راتلونکي ویجاړوونکې پایلې ولري.

د تعلیم له حق څخه د ښځو او نجونو عمدي محرومیت اقتصادي، ټولنیزې او فرهنګي ناوړې پایلې هم لري او د ښځو او نجونو تر منځ د اجباري او له وخته مخکې واده، ځانوژنې او نورو ستونزو او رواني ناروغیو لامل شوی او دا وضعیت کولای شي د کورنۍ او ټولنې په کچه لا جدي ستونزې راولاړې کړي. پر همدې بنسټ، دې وضعیت ته رسیدګي او په افغانستان کې د تعلیمي بحران مهارول، د نړیوالې ټولنې، بین‌المللي سازمانونو، رسنیو، بشري حقونو بنسټونو او د افغانستان د خلکو له خوا بیړنۍ پاملرنې او تمهیداتو ته اړتیا لري.

که څه هم، د تعلیم او تحصیل حق ته د نجونو د لاسرسي لپاره د ښوونځیو او پوهنتونونو د بېرته پرانستلو په ګډون، د ښځو انساني کرامت ته له درناوي او د هغوی د انساني حقونو له تضمین پرته بله هیڅ حللاره نشته؛ خو دا مهال د انلاین تعلیم پروګرامونو ملاتړ، یا د رسنیو له لارې تعلیم، د تحصیلي بورسونو زیاتوالی، په کور کې زده کړې او نور انتخابونه او همدا راز د تعلیم د برخې د سازمانونو او فعالانو ملاتړ کیدای شي د ګټورو خو موقتو انتخابونو په توګه و اوسي چې د تعلیم حق ته د افغانستان د ښځو او نجونو لاسرسی تامین کړي.

# وړاندیزونه

تعلیم او تحصیل ته د ښځو د لاسرسي د تامین لپاره او هم د شته ننګونو او اندېښنو ته د رسیدو لپاره رواداري د لاندې مواردو وړاندیز کوي:

## نړیوالې ټولنې ته:

- دا چې طالبانو په تېرو درې کلونو کې په سازمان شوي او منظم ډول د ښځو د تعلیم او تحصیل حق نقض کړی دی، نو د جزايي بین المللي محکمې د اساسنامې مطابق د جنسیتي تعذیب او بشر ضد جنایت مرتکب شوي دي. پر همدې بنسټ، له بین المللی جزايي محکمې او د ملګرو ملتونو له نورو جزايي میکانیزمونو غواړو چې د خپلې دندې او قانوني صلاحیت سره سم دې مسئلې ته رسیدګي وکړي.
- طالبانو د ښځو د تعلیم او کار د حق په نقض سره همدا راز هغوی له ټولو انساني حقونو لکه له تبعیض څخه د خلاصون حق، صحي خدماتو ته د لاسرسي حق او د مناسب ژوند کچې ته د لاسرسي حق څخه هم محرومې کړې دي. پر همدې بنسټ، له نړیوالې ټولنې غواړو د دې لپاره چې طالبان ځواب ویونکي کړي او د دې هیواد د ښځو او نجونو د بشر حقونو د لا ډېر نقض مخه ونیسي، عملي اقدامات دې وکړي.
- لکه څنګه چې د دې راپور موندنو ښودلې ده، د ښوونځیو او پوهنتونونو په درسي پروګرامونو کې د پراخو بدلونونو په پلې کولو طالبان د تعلیم د ایډیالوژیک کولو او بنسټپالو مذهبي افکارو د دودولو لپاره هڅه کوي. سره له دې، له نړیوالې ټولنې غواړو چې د مذهبي بنسټ پالنې د خطر د پراختیا د مخنیوی لپاره او هم د ماشومانو د مناسبې ښوونې او روزنې څخه د داړ ترلاسه کولو لپاره د طالبانو تر کنټرول لاندې د ښوونیزو او تحصیلي موسسو جدي څارنه وکړي.
- «د طالبانو د امربالمعروف قانون» د افغانستان ښځو ته ښکاره توهین او د هغوی د انساني کرامت صریح نقض دی. لکه څنګه چې د رواداري موندنې ښیي، د دې قانون له خپرېدو وروسته حتا په لومړني ښوونځیو کې پر نجونو سخت محدودیتونه زیات شوي او دا مهال هغوی مجبورې دي چې ماسک او دستکشې واچوي چې بدن یې و نه لیدل شي. د همدې له مخې، له نړیوالې ټولنې غواړو چې ژر تر ژره د دې قانون مخه ونیسي.
- د افغانستان د ښځو او نجونو د رسمي تعلیم لپاره هیڅ تلپاتې انتخاب او حللاره نشته، نو له نړیوالې ټولنې هیله لرو چې له قانوني میکانیزمونو او ابزارو څخه په استفادې پر طالبانو فشار راوړي چې د ښځو پر مخ د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې پرانیزي.
- له نړیوالې ټولنې غواړو چې د تعلیم حق ته د افغانستان د ښځو او نجونو د لاسرسي د تامین لپاره د موقتې حللارې په توګه د بورسونو او د تعلیمي لګښتونو د مرستو ملاتړ وکړي.
- له نړیوالې ټولنې په کلکه غواړو چې په مورنۍ ژبه زده کړې، تاریخ، فرهنګ او خپل مذهب ته په قومي او مذهبي اقلیتونو پورې د اړونو ماشومانو د لاسرسي د ملاتړ لپاره اغېزناک اقدامات وکړي.
- د اسلامي همکارۍ سازمان او د سیمې نورو هیوادونو څخه غواړو چې د عدالت غوښتونکو هڅو په ملاتړ او د تعلیم حق ته د ښځو او نجونو د لاسرسي لپاره پر طالبانو فشار راوړي.

## حاکمو اقداماتو ته:

- افغانستان د بشر حقونو د بین المللي الزامي اسنادو، لکه ښځو سره د تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسیون، د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون، د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون او د ماشوم د حقونو کنوانسیون سره یوځای شوی دی، چې دې اسنادو د ټولو لپاره د تعلیم حق له استثنا او تبعیض پرته په رسمیت پېژندلی دی. د همدې له مخې، له حاکمو مقاماتو غواړو چې پر خپلو حقوقي مسئولیتونو د عمل تر څنګ په یادو اسنادو کې راغلیو حقونو ته د درناوي لپاره ژر تر ژره د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې د دې هیواد د ښځو او نجونو پر مخ پرانیزي.
- د تعلیم له حق څخه په عمدي ډول د ښځو او نجونو د محرومولو دوام ښځو سره د هر ډول تبعیض د مخنیوي کنوانسیون کې د راغلیو مقرراتو ښکاره نقض دی چې جدي حقوقي مسئولیتونه لري. د همدې له مخې، له حاکمو مقاماتو غواړو چې له دې زیاته خپله د بشري حقونو د نقض کارنامه سخته نه کړي او د ښځو د تعلیم حق ته د هغوی د یو بشري حق په توګه درناوی وکړي.
- له حاکمو مقاماتو غواړو چې د قومي اقلیتونو سره تړلو ماشومانو لپاره په مورنۍ ژبه د زده کړې او هم د هغوی تاریخ، فرهنګ او د هغو مذهب ته درناوی وکړي او همدا راز د تعلیم حق ته د معلولیت لرونکو ماشومانو د لاسرسي زمینه برابره کړي.
- رواداري همدا راز له حاکمو مقاماتو غواړي چې د تعلیم د ایډیالوژیک کولو او د ښوونځیو او پوهنتونونو د درسي پروګرامونو د سلیقې له بدلولو څخه ډډه وکړي او د هیواد د ماشومانو د ښوونې او روزنې په چاره کې د بشر د حقونو د موازینو پر بنسټ عمل وکړي.

# د برابر او سوله ایز افغانستان لپاره

RAWADARI.ORG

روادارى
RAWADARI